❖❖❖

# د پوله تېرېدونکو اوبو پر حقوقي تنظيماتو او معاهداتو د اقليمي اغېزو ارزونه
## «د هلمند سیندیزې حوزې د قضيې څېړنه»

برکت الله اریوبي *

***لنډيز***

*اقليمي بدلونونو د خوږو اوبو په برخه کې بې‌سارې ستونزې او ننګونې رامنځته کړې او رامنځته کوي یې، چې دا چاره د اوبو کیفیت، کمیت، د اوبو عملیاتي کولو سیستمونه او د اوبو د حکومتولۍ تطابق ننګولی شي. هېوادونه هڅه کوي د پوله تېرېدونکو سیندیزو حوزو پر سر تړونونه او نور حقوقي تنظيمات رامنځته کړي. لېکن تراوسه نیمې پوله تېرېدونکې حوزې هم حقوقي تنظيمات او معاهدات نه لري او هغه یې چې لري، ډېری داسې تړونونه او تنظيمات دي چې له اقليمي بدلونونو سره د سازګارۍ په برخه کې په ځانګړې توګه سېلابونو او وچکالیو په برخه کې د تطابق مؤثر میکانیزم نه لري. پوښتنه دا ده چې دا اقليمي بدلونونه څه ډول د پوله تېرېدونکو سیندیزو حوزو حقوقي تنظيمات ننګوي، په ځانګړې توګه د هلمند سیند تړون په کومه کچه له اقليمي بدلونونو سره د تطابق وړتیا لري؟ په دې څېړنه کې په نړیواله کچه درې بېلابېلې سیندیزې حوزې مطالعه شوې، چې د ارزونو له مخې تراوسه هم نه دي توانېدلي په کافي او مؤثره توګه له اقليمي بدلونونو سره د سازګارۍ مؤفق موډلونه وړاندې کړي. څېړنه وړاندیز کوي، چې له اقليمي بدلونونو سره د شته تنظيماتو او معاهداتو د تطابق لپاره اړتیا ده چې د اوبو د تخصیص انعطاف منونکې ستراتیژۍ رامنځته شي، د اضطراري وضعیت لکه سېلابونو او وچکالۍ لپاره اړین موارد په تنظيماتو کې ځای پرځای شي، په معاهداتو او حقوقي تنظيماتو کې د بدلون او اصلاح موارد زیات شي او د پوله تېرېدونکو اوبو ګډ او اغېزناک مدیریت یادونه وشي. څېړنه ښیي چې د هلمند سیند اوبو تړون هم له اقليمي بدلونونو سره د سازګارۍ په موخه ځینې موارد لري، د بېلګې په توګه د حقابې متغیروالی، د وچکالۍ د مواردو ذکر، د اوبو د کیفیت د مسئلې یادېدل او داسې نور.*

***بنسټیز مفاهیم:*** *د هلمند سیند د اوبو تړون، اقليمي بدلونونه، نړیوال حقوق، حقوقي تنظيمات، معاهدات.*

---

* د افغانستان د اوبو او انرژۍ وزارت د پوله تېرېدونکو *افرامرزي* اوبو رئیس

## ۱. مقدمه

څېړنې ښيي چې اقليمي بدلونونه به د نړۍ ډېری سينديزې حوزې په راتلونکو لسيزو کې لا نورې وځپي او ممکن لا ډېرو سېلابونو او وچکاليو سره مخ شي. له بين المللي اوبو څخه د ګټه اخيستونکو رژيمونو لپاره له اقليمي بدلونونو سره سازګاري په څو دلايلو اړينه ده. لومړی دا چې احتمالي اقليمي بدلونونه ممکن په اساسي او ډراماتيکه توګه د ژورو بدلونونو سبب شي ليکن په جغرافيايي توګه ممکن په غيرمتناسبه توګه اغېزې رامنځته کړي. دا بدلونونه ممکن مثبت او يا منفي وي چې د سينديزو حوزو په وضعيت او موقعيت پورې اړه لري. نو ځکه په دې اړه عکس‌العمل هم بايد محلي او د سينديزو حوزو وضعيت ته په کتلو سره وي، نه دا چې په نړيواله کچه يو واحد ميکانيزم تطبيق شي. دويم دا چې دا بدلونونه چې سر له اوسه د واقع کېدو په حال کې وي، ممکن د سازګارۍ او اقليمي بدلونونو د اغېزو له راکمولو څخه د مخه رامنځته شي که چېرې د اقليمي بدلونونو اغېزې کمې شي نو ممکن دا موارد به نور هم اغېزناک شي. درېيم دا چې د پوله تېرېدونکو اوبو ميکانيزمونه له اقليمي بدلونونو سره د سازګارۍ لپاره پوتنشيل لري او د سازګارۍ لګښت کم دی نسبت دې ته چې په کلي توګه شين کوريز[1] ګازونه خوشي شي. څلورم دا چې شته ايکوسيستم د ځينو ابعادو له اړخه د اوږدمهال لپاره ممکن د فشار زغملو توانايي ولري او د نورمال حالت رامنځته کولو لپاره تر اوسه هم يو ښه انتخاب دی.

په نړۍ کې شاه وخوا ۲۷۶ پوله تېرېدونکې سينديزې حوزې شته، چې د ډېرو کمو هغو يې حقوقي چوکاټ او معاهدات تنظيم شوي؛ خو د ځينو ارزونو له مخې دوه پر درې برخه يې حاکم حقوقي چوکاټ نه لري. (broek, 2021) د ملګرو ملتونو د راپور د وروستيو ارزونو له مخې په نړۍ کې د يوازې ۲۸ سلنه پوله تېرېدونکو اوبو اړوند تړونونه چې په کلي توګه عملي شوي دي، د سېلابونو او وچکاليو او همداراز د اقليمي بدلونونو مسائل پکې له پامه غورځول شوي دي.(UN, 2024)

په دې څېړنه کې موږ هڅه کوو، چې لومړی په پوله تېرېدونکو سينديزو حوزو باندې د اقليمي بدلونونو احتمالي اغېزې و ارزوو چې اړوند ګډ يا شريک هېوادونه به له کومو ستونزو

---

[1] Green houses

ننگونو سره مخ کړي او دا بدلونونه څه دي. همداراز په نړیواله کچه له اقلیمي بدلونونو سره په پوله تېرېدونکو سیندیزو حوزو کې د تطابق کوم موډلونه شته او مؤثریت یې څه ډول دی. په ورته وخت کې موږ هڅه کوو، چې په نړیواله کچه د هېوادونو تعاملات او رویې وڅېړو چې په بېلابېلو گډو سیندیزو حوزو کې له اقلیمي بدلونونو سره د تطابق لپاره له کومو رویو څخه کار اخیستل شوی او دلته پکې درې بېلابېلې حوزې چې بېلابېل موقعیتونه، جغرافیې، سیاسي، اقتصادي او اجتماعي شرایط لري، انتخاب شوې دي. دا مقاله په آسیا کې د گنگا سیند، په افریقا کې د نیل سیند او په امریکا لویه وچه کې د کلوراډو سیند رویې څېړي. پر دې سربېره، د هلمند د سیند په اړه د افغانستان او ایران ترمنځ د تړون ارزونه شوې، چې څنگه او په کومه کچه د اقلیمي بدلونونو سره د تطابق وړتیا لري او په دې موخه لازم وړاندیزونه شوي دي.

دا څېړنه څلور برخې لري چې په لومړۍ برخه کې د اقلیمي بدلونونو احتمالي اغېزې او د پوله تېرېدونکو سیندیزو حوزو د مدیریت په برخه کې یې ننگونو ته اشاره شوې، په دویمه برخه کې له اقلیمي بدلونونو سره د نوموړو حقوقي تنظیماتو او معاهداتو د تطابق په برخه کې موډلونه او میکانیزمونه پیشبیني شوي، په درېیمه برخه کې له درېیو بېلابېلو جغرافیایي، هایدرولوژیکي او هایدرپولتیکي وضعیت درلودونکو څخه د کلوراډو، گنگا او نیل سیندیزې حوزې د بېلگې په توگه، ارزول شوې، چې د تطابق کوم ډول میکانیزمونه لري؛ او په وروستۍ برخه کې د هلمند سیندیزې حوزې د قضیې ځانگړې مطالعه شوې، چې تر کومې کچې له اقلیمي بدلونونو سره د تطابق ظرفیت لري او په دې برخه کې د ښکېلو لوریو مسؤولیتونه یاد شوي دي.

### ۲. پر بین المللي سیندونو د اقلیمي بدلونونو احتمالي اغېزې

تمه ده چې په راتلونکو لسیزو کې به د ځمکې د تودوخې کچه په بې‌سارې توگه لوړه شي او دا ډول بدلونونه په حقیقت کې ډېر بې‌ثباته دي. پوهان پر دې باور دي، چې د تودوخې د درجې له لوړېدو سره به د ځمکې بېلابېلې برخې په مختلفو بڼو اغېزمنې شي لېکن دوی په کره توگه د دې وړاندوینه نه شي کولای چې څنگه به د ځمکې مشخصې سیمې اغېزمنې شي. (Smith, 1989)بېلابېلې څېړنې او هایدرلوژیکي موډلونه ښیي، چې د تودوخې د درجې په زیاتوالي سره به د ځمکې پورتنی شمالي طول البلد په ژمي کې واقع شي. د تودوخې درجې

تغییرېدل به ځینې مشخصې پایلې له ځان سره ولري. د منځني او شمالي طول البلد لپاره گرمه هوا به د دې سبب شي، چې له وخت مخکې واوره وېلې شي او د پسرلي جریانات له وخته مخکې راشي. همداراز د تودوخې درجه به د دې سبب هم شي، چې ایرکنډېشن او برېښنا پکو ته اړتیا ډېره شي، چې دا چاره به انرژۍ په ځانګړې توگه برېښنا ته تقاضا لا ډېره کړي. همداراز د تودوخې درجې زیاتوالی او تغییر به یې په ځانګړو سیمو کې د نباتاتو او محصولاتو پر پراختیا هم اغېز ولري ځکه چې د اوبو اړتیا وخت او مقدار به یې تغییر شي. (Crosson, 1989) اقلیمي بدلونونه به همداراز په ورښت کې د بدلون سبب شي. ځینې سیمې به د اوس په نسبت لږ ورښت ولري او ځینې به ډېر. سربېره پر دې، د ورښت موسم به هم تغییر ومومي. که چېرې د ورښت د موسم د بدلون کچه لوړه او اساسي وي نو ممکن د اکوسیستم، زراعتي محصولاتو او نورو بشري فعالیتونو لپاره وېجاړوونکې پایلې ولري. په ورښت او بڼه کې یې تغییر به په مستقیمه توگه د سیندونو جریان اغېزمن کړي. د سیندونو پورتنیو برخو کې به جریان ډېر شي، چې ښکته خوا به سېلابونو رامنځته کېدو لامل شي. د اوبو اوسني ذخیروي ساختمانونه او د سېلاب د کنټرول بندونه به د اضافي اوبو ذخیره کولو وړتیا ونه لري. د ورښت کمښت به هم اوسنۍ ستونزې لا پسې ډېرې کړي. د کښتۍ چلونې سیندونه به اغېزمن شي او د بدیلو لارو پیدا کول به هم په اقتصادي لحاظ گران کار وي. جهیلونه او د اکوسیستم نورې برخې به تغییر مومي او د کبانو او اوبیزو ژوو ژوند به له خطر سره مخ کېږي. همداراز د سیندونو د جریان تغییر به د اوبو پر کیفیت اغېز وکړي. په سیندونو کې د جریان زیاتوالی به د دې سبب شي، چې په اوبو کې ککړوونکي مواد ډېر شي، لاندېني جهیلونه او ساختمانونه به د اوبو دکیفیت له اړخه زیانمن شي ځکه چې هلته به کافي ککړوونکي مواد راټول شي. د بایوسفیر تغییر په وجه به د بحرونو او سیندونو اکوسیستم لا زیانمن شي. د نړۍ بیولوژیکي سیستم ترکیب او خپرېدل په قوي توگه له اقلیمي بدلونونو څخه اغېزمنېږي. ډېرې نباتات او حیوانات به له چټکو بدلونونو سره د سازگارۍ په برخه کې له ننگونو سره مخ وي.(woodwell, 2011) د بېلگې په توگه، ، د ونو ځینې بڼې یې له اقلیمي بدلونونو سره ډېرې حساسې دي او د ځنگلاتو د ورکېدو سبب کېدای شي. د ځنگلاتو له لاسه ورکول او د سیندونو جریان زیاتیدل د خاورې د فرسایش (خرابیدو) سبب کېدای شي. د سیندونو جریان تغییر او تبدیل به د نباتاتو او د ژوو ځینو بڼو هبېتات له منځه یوسي. د تودوخې

د درجې زیاتوالی د دې سبب کېږي چې په سیندونو کې د الجي او نورو اوبیزو نباتاتو پراختیا په اوبو کې د اکسیجن کچه کمه کړي چې پایله کې یې کبان او نورو اوبیز ژوي زیانمنېږي. نو ځکه د سیندونو اکوسیستم موضوع به د اوبو د مدیریت مهمه او سخته موضوع وي، چې په پایله کې به یې د سیندونو جریان حد اقلي جریان تضمین، د اوبخوړ ساتنه او دا ډول نور چاپېریال ساتونکي محفاظتي تدابیر به د ژوو د ساتلو لپاره اړین شي.

د ځمکې تودوخې په پایله کې اټکل کېږي چې د بحرونو کچه په راتلونکو ۵۰ او یا ۱۰۰ کلونو کې له ۱،۳ فوټ څخه تر ۵ فوټه ورسېږي. حتی په ډېره کمه کچه د بحرونو سطحې لوړېدل د سیندونو مصب جهیلونو غرقیدو، د سیندونو دلتا سیمې خاورې فرسایش، په بحرونو، جهیلونو، آکویفرونو او ډنډونو کې د مالگینتوب زیاتوالی او سېلابونو ډېربښت لامل کېږي. ,mogetern) (1989 د بحرونو د اوبو د کچې له زیاتوالي سره به په سیندونو او بحرونو کې د کبانو په شمول شته ژوو ژوند له خطر سره مخ شي. همداراز د تیزو بادونو او سونامیو کچه به لوړه شي، چې د سېلابونو په برخه کې فاجعه رامنځته کولای شي. هغه سیمې او ملتونه چې د بین المللي اوبو په لاندینیو برخو کې پراته دي، هغوی به د بحرونو د اوبو د کچې له زیاتوالي څخه اغېزمن شي. په طبیعي حالت کې د اقلیمي بدلونونو او اوږدمهاله اقلیمي ناوړه بدلونونو ترمنځ توپیر هم پېچلی کېږي، چې دا چاره له دې پدیدې سره د مبارزې په برخه کې گامونه او هڅې له خنډ او ځنډ سره مخ کولای شي. ځکه چې د هوا په تغییرېدو سره د اقلیمي بدلونونو په برخه کې په مؤقتې هڅو او تدابیرو چاره کېږي، لیکن د اوږدمهاله اقلیمي بدلونونو په اړه باید په کلي توگه د اوبو د سرچېنو په مدیریت کې بدلونونه راشي او متعادل شي او دا په داسې حال کې ده، چې شته تنظیمات او قراردادونه په دې فرض رامنځته شوي، چې گواکې اقلیمي بدلونونه مؤقتې او په هوا کې د بدلونونو پایله ده. د بېلگې په توگه، که چېرې په وربښت کې کمښت لنډمهاله وچکالي رامنځته کړي نو اړوند هېوادونه به مؤقتي حل‌لارو ته گوري، پر ځای د دې چې پر دایمي حل‌لاره باندې کار وکړي. په کوم وخت کې چې بیا دا مشخصیږي، اقلیمي بدلونونه دایمي او اوږدمهال دي بیا به شرایط په داسې ډول اساسي تغییر شوي وي، چې له اوږدمهاله بدلونونو سره سازگاري کاملاً سخته چاره وي.

په کلي توگه ویلای شو چې د اقلیمي بدلونونو اقتضاء دا ده چې هېوادونه اقتصادي، اجتماعي او سیاسي اړخونو ته په کتو د اوبو د سرچېنو مدیریت حل او فصل کړي. د اوبو د تخصیص په اړه اړتیا پېښیږي چې هېوادونه بیا سره کښېني او په دې اړه بیاځلي د تخصیص په اړه مذاکره وکړي. که چېرې د اوبو د کمښت ستونزه لا جدي کېږي هېوادونه اړتیا لري چې پر دې توافق ته سره ورسېږي چې څنگه کولای شي رامنځته شوی تخصیص کم کړي او په دې اړه چې آیا شته اوبه باید زراعت ته تخصیص کړي که معیشیت ته؟ همداراز د صنعتي سکتور او برېښنا تولید برخه به څنگه کېږي؟ سربېره پر دې، په اوبو کې د کبانو په شمول د شته موجوداتو د حیات او هېبتات تأمین په موخه د لږ تر لږه اوبو او اکوسیستم برخه څه ده؟ که چېرې اوبه زیاتیږي ملتونه کولای شي دا مسئله چې څنگه زیاتې اوبه سره ووېشي، رامنځته کېږي لیکن په ورته وخت کې نورې ستونزې هم رامنځته کېږي چې باید اړوند هېوادونه ورته رسیدگي وکړي لکه د سېلابونو کنټرول او داسې نور...

د اوبو د سرچینو د مدیریت اړوند ځینې هغه مسئلې او موضوعات، چې ممکن د اقلیمي بدلونونو په وجه رامنځته شي یا راپورته شي په لاندې توگه دي:

۱. د اوبو تخصیص؛ د اوبو د کمښت او زیادښت په وخت کې؛

۲. د اوبو د کیفیت ستونزه؛

۳. د اکوسیستم ساتنې په برخه کې هڅې او په سیندونو کې د لږ تر لږه جریان ساتنه؛

۴. د بحرونو او سیندونو اکوسیستم

۵. د سېلابونو مدیریت.

د پورتنیو او اړوند نورو ستونزو حل په موخه اړتیا ده چې په شریکه سیندیزه حوزه کې گډ نهادونه (د سیندیزو حوزو سازمانونه) خپل کار په سمه توگه ترسره کړي. د نورو مواردو ترڅنگ اړتیا ده چې په لاندېنیو برخو کې تنظیمات رامنځته او پراختیا ومومي:

د ملتونو ترمنځ د آمارو، ارقامو او معلوماتو شریکول؛

د اختلافاتو د سوله‌ییز حل او فصل پروسیجر رامنځته کول؛

په قراردادونو او شته تنظیماتو کې د اصلاح او تغییر راوستلو پروسیجر واضح کول؛

د سیندیزې حوزې گډ مدیریتي ساختار رامنځته کول.

### ۳. د اوبو اړوند تړونونو په رژيم کې د انعطاف راوستل

د پوله تېرېدونکو اوبو اړوند حقوقي تنظيماتو او معاهداتو کې په بېلابېلو ډولونو انعطاف راوستل کېدای شي. اړوند دخيل هېوادونه بايد هغه لارې چارې انتخاب کړي چې د دوی وضعيت، موخو او په ټوله کې د دوی ترمنځ د اړيکو ډول سره يې مناسب وي. موږ به دلته د ځينو هغو نومونه واخلو، لېکن دا لېست تکمېل نه دی هېوادونه کولای شي خپل وضعيت ته په کتو بېلابېلې لارې چارې انتخاب او عملي کړي. په حقيقت کې د انعطاف راوستلو امکانات کاملاً د مذاکره کوونکو هېوادونو په نيت او اراده کې نغښتي دي او دا هم کاملاً واضح ده، چې هېوادونه هر وخت کولای شي، ترمنځ يې شته تړون اصلاح او يا تغيير کړي او له رامنځته کېدونکو شرايطو سره يې متناسب کړي.

د انعطاف يو مېتود دا دی، چې په يوه شريکه سينديزه حوزه کې په عمومي توګه د معاهدې چوکاټ رامنځته شي او بيا وروسته اړخونه وکولای شي په مشخص وخت (کلنی، پنځه کلنۍ او ...) بل شکل د اوبو استفادې او مديريت مسائل سره تنظيم کړي. سره له دې چې دا طريقه عامه نه ده لېکن په سير سيند کې موږ د دې مېتود تطبيق بېلګه لرو، چې له مخې يې اړوند هېوادونه په کلنۍ توګه د اوبو خوشې کولو، برق انتقال او د انرژۍ برخې ضايع کېدو جبران او د اوبو ذخيره کولو مقتضياتو په اړه سره هوکړه کوي. (Agreement on use of syr darya river basin, 1998)البته د دې مېتود د تطبيق لپاره د هېوادونو لپاره نږدې همکارۍ ته اړتيا ده او همداراز په هر کال کې د هېوادونو ترمنځ د توافق رامنځته کېدو په ډول پورې اړه لري. دا چې د شريکو هېوادونو ترمنځ د هر کال لپاره جلا توافقنامې ته اړتيا نه وي، اړخونه کولای شي دا چاره او مسؤوليت يې ګډ تخنيکي کميسيون ته وسپاري او نوموړی کميسيون په کلنۍ توګه داسې پروګرامونه پلي کړي، چې د عمومي چوکاټي هوکړې له اساساتو سره په مطابقت کې وي. دا ډول پروګرامونه د تطبيق وړ دي، لېکن که چېرې يو اړخ پرې اعتراض ولري ستونزې ته د تعريف شوي پروسيجر په رڼا کې رسيدګي کېږي.

دويمه لاره دا ده، چې په يوه شريکه سينديزه حوزه کې د هېوادونو ترمنځ تړون د کم وخت لپاره (مثلا پنځه کلونو) لپاره رامنځته شي او خود بخود دا تړون د بلې دورې لپاره د تمديد وړ

وي لېکن دا چې په یو مشخص وخت کې یو یا څو اړخونه پرې اعتراض وکړي. دا په حقیقت کې په ندرت سره واقع کېږي لېکن موږ يې نمونه لرو. د سیر سیند تړون ۱۲مه ماده همدا مورد بیانوي. په دا ډول مواردو کې یو مشخص هېواد دا انتخاب لري، چې د شرایطو او وضعیت په تغییریدو سره په تړون کې پاتې شي یا ووځي، نو ځکه د سختو او له زغم وتلو شرایطو څخه په امان کې وي. د دې مېتود یوه بدګڼه دا کېدای شي، چې د هېوادونو ترمنځ به په دې اړه تړونونه ثبات نه لري او د وړاندوینې وړ به نه وي هغه څه چې په یوه سیندیزه حوزه کې له تړونونو سره د یوځای کېدو په برخه کې د هېوادونو لپاره اساسي محرک دی.

د پوله تېرېدونکو سیندیزو حوزو اړوند حقوقي تنظیماتو او معاهداتو کې د انعطاف دریېمه لاره چاره دا ده، چې هېوادونه کولای شي په معاهده کې د ځانګړې وضعیت په اړه (وچکالي او سېلاب) مشخص موارد ذکر کړي. د بېلګې په توګه، د امریکا او مکسیکو ترمنځ د رېو ګرنډې سیندیزې حوزې ۱۹۴۴ کال تړون له مخې دا ډول وضعیت پیشبیني شوی. د نوموړي تړون له مخې د امریکا متحده ایالات حق لري چې له مکسیکو څخه په پنځه کلنه اوبیزه دوره کې مشخص مقدار اوبه ترلاسه کړي، که چېرې د فوق العاده وچکالۍ له مخې امریکا ته په مشخص مقدار اوبه نه رسیږي نو بیا مکسیکو اړه ده، چې په راتلونکو ۵ کلونو دوران کې امریکا ته هماغه پاته شوې مقدار اوبه هم ورکړي.(Maxico, 1944) همداراز که چېرې له نوموړو هېوادونو څخه یو يې د وچکالۍ په حالت کې وي او بل يې د اوبو له پریمانۍ سره مخ وي نو وروستنی هېواد به اړ وي چې له ګډو ذخیروي ساختمانونو څخه د بل هېواد د زارعینو د جدي ستونزو د حل په موخه اوبه پرېږدي. سربېره پر دې، د کلوراډو سیندیزې حوزې د حقوقي تنظیماتو له مخې که چېرې د وچکالۍ له کبله متحده ایالات ونه توانیږي مشخص مقدار اوبه مکسیکو ته ورکړي امریکا به په هماغه تناسب چې د خپل هېواد په داخل کې يې حقابې کمې کړې په هماغه کچه به د مکسیکو حقابې په مقدار کې هم کمښت راځي. په هر صورت، که چېرې د غړو هېوادونو ترمنځ د اوبو عرضه کول په خوندي او اعتمادي توګه ممکن وو، د بېلګې په توګه، د ځمکې لاندې اوبه؛ لومړی باید همدغه اوبه تخصیص شي او د اوبو د مقدار عرضې ته په پام د نوساناتو وضعیت ته په کټو تخصیص کېږي. څلورمه لاره چاره دا کېدای شي، چې هېوادونه د معاهدې فسخ کولو او یا ورڅخه د وتلو د لارو چارو موارد په تړون کې ذکر کړي، د بېلګې په توګه، له

وتلو ٦ میاشتې یا ... دمخه مقابل اړخ ته خبراوی ورکړي. دا چې هېوادونه نه شي کولای په مکمله توګه د شریکو سیندیزو حوزو اړوند ټول موارد او احتمالي بدلونونه پیشبیني کړي، نو ځکه د فسخ کولو او یا له تړون څخه وتلو لار له احتمالي ناوړه اغېزو څخه د خوندیتوب یو حق ورکړل شوی، سره له دې چې د تل لپاره په تړونونو کې د دا ډول مواردو ذکر مناسب نه وي. د چک جمهوریت او هنګري ترمنځ په ۱۹۷۷ کې د ګبکېکوو قضیه کې د لویو کارونو عملیاتي کول او ساختمانونو جوړول یو ښه مثال دی، چې له مخې یې پورتنۍ وړاندوېینه مناسبه نه ده ځکه چې پورتني مثال کې د دایمي ساختمانونو خبره شوې او که چېرې د هېوادونو ترمنځ د دایمي ساختمانونو او زیربناوو مسئله نه وي نو کېدای شي پورتنۍ لاره چاره وکارول شي او یوه مناسبه حل‌لاره واوسي.

پنځمه حل‌لاره دا ده، چې په یوه سیندیزه حوزه کې شریک هېوادونه وکړای شي په معاهده کې د ګډ ساختمانیز پلان[1] میکانیزم ځای پر ځای کړي لکه څه ډول چې د چک‌سلواکیا او هنګري ترمنځ په پورتنۍ قضیه کې راغلي دي. نوموړی یو ارګانیک سند دی چې د پروژې عملیاتي کولو او تطبیقولو ټول جزیات پکې ذکر کیږي او له راتلونکو بدلونونو سره په متناسبه توګه له انعطاف سره مل (ضم) حل‌لارې ورته وړاندېز کیږي. د بېلګې په توګه، په پورتني مثال کې د معاهدې په ۱۵مه ماده کې د «اوبو کیفیت ساتنې» مسئله یاده شوې او په یوه برخه کې یې راځي: «متعاهد لوري باید دا ډاډ رامنځته کړي چې لکه څه ډول چې په ساختمانیز ګډ پلان کې ذکر شوي، چې د دانیوب سیندیزې حوزې اوبه د ذکر شوي سیستم پرمټ نه ککړوي. همداراز ورته احکام د طبیعت ساتنې په ماده کې هم ذکر شوي دي.(Treaty, 1977)

بله حل‌لار دا کېدای شي، چې طرفین د تړون له مخې ساختاري نهاد رامنځته کړي لکه د سیندیزې حوزې سازمان (ROB) چې هغوی وکړای شي د وضعیت بدلونونو ته په کتو په حقوقي تنظیماتو او معاهداتو کې اړوندو هېوادونو ته اصلاحیې او توصیې وړاندیز کړي. د هلمند سیندیزې حوزې په برخه کې هم دا ډول مورد ذکر شوی. د افغانستان او ایران ترمنځ د هلمند سیند ۱۹۷۳ز کال تړون ۱۱مې مادې مطابق که چېرې فوق العاده یا ډارووونکې وچکالي د دې

[1] Joint construction plan

سبب شي، چې د هلمند سیند دلتا برخې ته اوبه ونه رسیږي نو کمیساران به د ستونزو کمولو یا له منځه وړلو لپاره عاجل پلان چمتو کوي او اړوند هېوادونو ته به يې د تصويب او تأييد لپاره سپاري.

په ورته وخت کې د اوبو د چارو کارپوهان له اقليمي بدلونونو سره د تړونونو د سازګارۍ په موخه هايدرولوژيکي رژيمونو ته په کتو لاندېنۍ موارد هم ذکر کوي:

د پوله تېرېدونکو اوبو اړوند شريک هېوادونه کولای شي په څو بڼو خپل تنظيمات او معاهدات له اقليمي بدلونونو سره هايدرولوژيکي رژيمونو ته په کتو سازګار کړي. د شته استفادو بیاځلې تخصیص[1]، ذخیره کول[2]، په لنډمهالې توګه له ځينو استفادو څخه سترګې پټول او يا په دايمي توګه د يوې استفادې له منځه وړل. دا هره ستراتيژي د ملکيت د حقوقو قوي رژيم ته اړتيا لري. ځکه چې دا ډول قوي رژيم چې د اړوند نهادونو له لوري تقويه شوی وي کولای شي د تخصيص عادلانه او منصفانه بڼې رامنځته کړي او همداراز د استفاده کونکو ترمنځ د راتلونکو خطراتو اغېز کم کړي. ليکن د ملکيت اړوند حقوقو رژيم بايد ډاينامیک وي يعني له بدلونونو سره په آسانه او مؤثره توګه ځان عيار کړای شي، ځکه نو د تغيير حقوقي او سياسي موانع بايد د عاجلو اصلاحاتو رامنځته کولو توان ولري. د ملکيت د حقونو ډېرى رژيمونه د چټکو اصلاحاتو راوستلو په برخه کې کم ظرفيت لري ليکن له بدلونونو سره د سازګارۍ لپاره مناسب دي ځکه چې د انتقال لګښتونه يې کم دي. د اوبو حقوق بيا د ملکيت د حقوقو په نسبت برعکس وضعيت لري، يعني د تخصيص رژيم يې په حقيقت کې د خطر تخصيص[3] دی چې په ثابته بڼه د اوبو د کمښت وخت کې بدلونونه پکې راتللی شي، که څه هم د انتقال لګښت يې د ملکيت حقوقو په نسبت لوړ دی، ځکه چې د اوبو حق اړوند مسائل يو له بل سره ټينګې اړيکې لري او د اجتماع د ګټو عنصر پکې دخيل دی. په دې وضعيت کې د اوبو حقوق د سازګارۍ لپاره اساس دي. د بېلګې په توګه، په غربي حقوقو کې د مخکېني تخصيص[4] د کمښت په وخت کې خطر په آسانه د مخکينۍ استفادې اصل له مخې وېشي. او همداراز دا چاره د اوبو د حقوقو د انتقال لګښت

---

[1] Reallocation of Existing Uses
[2] Conservation
[3] Risk Allocation
[4] prior allocation

هم قبول شوې اندازې ته راولي.(Macdonnell, 1990) د اوبو د نړيوالو حقوقو رژيم په حقيقت کې د ګاونډيو او اختصاصي رژيم ترمنځ يو ګډ رژيم دی. د ګاونډيتوب حقوق او مخکينی د تخصيص حق د هايدرولوژيکي رژيم بدلونونو سره د عيارېدو بېلابېل پوټنشيلونه لري؛ خو دواړه سيستمونه ګډې ستونزې هم لري: ډېر سياسي ، نهاديز او حقوقي موانع شته چې د اوبو په بيا ځلې تخصيص کې د ګټونکي او بايلونکي واضح کول، چې يوه مهمه اړتيا ده، ستونزمنوي. د پوله تېرېدونکو اوبو تخصيص هم له ګڼو ننګونو سره مخ دی: په عمومي توګه، د بين المللي اوبو د تخصيص د معاهداتو په اړه مذاکره کېږي، چې ګواکې يو بند جوړ شي او تمه دا وي چې د اوبو د کمښت ستونزه به لنډمهالې وي. نو ځکه د تخصيص يا وېش تنظيمات او معاهدات يوازې په لنډمهالې توګه د بياځلې تخصيص لپاره دي او د اوږده مهال کمښت لپاره کوم ځانګړی ميکانيزم نه لري. د غربي امريکا د اوبو حقوق چې د نړيوالو اوبو د حقوقو لپاره بنسټ جوړوي، په حقيقت کې د سازګارۍ لپاره د يو ښه مډل پوټنشيل لري. د غربي امريکا د مخکېني تخصيص دکتورين د اوبو د کمښت پرمهال د ريسک د وېش او بياځلي تخصيص په اړه مؤثر ميکانيزم لري. که څه هم دا ريسک په عملي توګه په لويو سينديزو حوزو کې د پلي کېدو لپاره نه دی آزمايل شوی، نو ځکه دا حقوق هم تر اوسه د دې موخې لپاره نه دي کارول شوي. د بېلګې په توګه، د امريکا د کورنيو چارو وزارت تر اوسه په کلورادو سينديزه حوزه کې د سيند په حقوقو کې مخکېنی اختصاص يا لومړيتوب نه دی تنفيذ کړی، سره له دې چې کليفورنيا ته يې يادښت ليږلی چې د اريزونا اضافي ونډه اوبه نه شي استفاده کولای. د مرکزي او ايالتي اوبو پاليسيو تمرکز د اوبو کمښت پرمهال د ريسک وېشل ځکه معقول دي چې د اوبو ذخيره کولو سهولت رامنځته کړي. نو ځکه ممکن ذخيروي تأسيسات او تر ځمکې لاندې اوبه ممکن د وچکالۍ پرمهال ممکنه او مؤثره لار وبلل شي.

د پخواني تخصيص حقوق د ريسک وېش رسمي ميکانيزم دی، مګر دا چې د اوبو د کمښت پر مهال دې په پراخه پيمانه وکارول شي، هيله کمه ده. د دې برعکس، د ګاونډيتوب د حقوقو رژيم يو سخت او زيانمنونکی رژيم دی چې مخکې له مخکې ګټونکی او بايلونکی نه معلوموي خو په وروستي پړاو کې بايلونکي ته د جبران خسارت اقدامات لري. سره له دې چې

ځينې هڅې روانې دي، چې د ګاونډيتوب د حقوقو لا محکم کولو لپاره کار کوي خو هغه رطوبت لرونکي هېوادونه چې وار له مخې يې د ګاونډيتوب حقوق په رسميت پيژندلي دي، پورتنۍ هڅې نه کوي ځکه چې د دوی د باور له مخې اوبه زياتيدونکی څيز دی نه کمېدونکی.

## ٤. په نړيواله کچه د هېوادونو تعاملات

د کلاسيکو نړيوالو حقوقو له مخې، ملتونه په هغه څه چې دوی خپله رامنځته کړي او پرې يې توافق کړی، په جدي او قوي توګه ملزم دي. د هېوادونو د رضايت پر بنسټ ولاړو نړيوالو حقوقو له مخې، حقوقي نورمونه او قواعد په رسمي توګه د هېوادونو ترمنځ رسمي وعدو او همداراز د دوی ترمنځ په متقابله توګه د کړو وړو او رويو مجموعه ده.(M.Janis, 1988) د هېوادونو ترمنځ د دا ډول اظهار شوو ارادو عمده سرچينې معاهدات او کنوانسيونونه دي. همداراز که چېرې معاهده په خصوصي توګه لکه د قرارداد په شان رامنځته کېږي اړخونو ته الزامي حقوق او وجايب رامنځته کوي.

همدا سبب دی چې په ډېريو سينديزو حوزو کې د شريکو هېوادونو له لوري د نوموړې سينديزې حوزې په اړه لږ تر لږه يوه دوه اړخيزه يا څو اړخيزه معاهده شته.(UNFAO, 1978) دا ډول تړونونه او قراردادونه د سينديزو حوزو شرايطو ته په پام توپير لري. دا ډول تړونونه د معلوماتو، آمارو او ارقامو راټولولو له پروسې څخه پيل او کلونه کلونه حتی لسيزې وختونه نيسي چې په اړه يې مذاکرات مهم پړاو ته ورسېږي او يو توافق ترلاسه شي. دا ډول معاهدات معمولاً له مغلقو راکړو ورکړو سره مل وي، پرته له دې چې لزوماً د معاهدې په متن او محتوا کې درج وي.

په دې برخه کې موږ هڅه کوو لږ تر لږه جغرافيايي، هايدرولوژيکي، سياسي، اقتصادي او اجتماعي بېلابېلو شرايطو ته په کتو د نړۍ له بېلابيلو برخو څخه درې سينديزې حوزې بحث کړو، چې عبارت دي له: نيل سينديزه حوزه، ګنګا سينديزه حوزه او کلوراډو سينديزه حوزه.

**الف) د نيل سينديزه حوزه:**

نيل سينديزه حوزه په نړۍ کې تر ټولو لويه سينديزه حوزه ده، مساعت يې ۴۲۰۰ مايله دی او له تانزانيا څخه پيل او تر مديترانې سمندرګې پورې رسيږي.(J.waterbury, 1979) د نهو هېوادونو ترمنځ شريکه حوزه ده، چې مهم هغه يې د نظامي ځواک لرونکی مصر دی. د نيل

سیندیزه حوزه دوه عمده شاخې لري. سپین نیل چې د مرکزي افریقا د پلیټو ساحې له ډنډ او ویکتوریا جهیل څخه ابتدایي سرچینه اخلي. له یوگانډا څخه په تېرېدو سوډان ته داخلېږي. کله چې د سپین نیل سیند برخه خرطوم (د سودان پلازمېنې) ته رسېږي، د نیل سیند دویمه شاخه، چې نیلي نیل نومېږي او له ایتوپیا څخه سرچینه اخلي، ورسره یوځای کېږي. په ټوله کې د نیل سیند کابو ۸۰ سلنه هغه موسمي ورښتونه تشکیلوي، چې د ایتوپیا له لوړو څخه رابهیږي. (J.starr&D.stoll, 1988)پرته له اتبارا سیند څخه چې موسمي جریان لري لبته هغه هم له ایتوپیا څخه سرچینه اخلي، په پاتې ۳۰۰۰ کیلومتره کې نیل سیندیزه حوزه هیڅ اوبه نه ترلاسه کوي.

تر دې وروستیو پورې مصر له پورتنیو هېوادونو سره د دغو اوبو پر سر ډېره کمه سیالي کوله؛ ځکه چې پورتنیو هېوادونو په جدي توگه زراعتي او صنعتي پراختیا نه وه کړې او د نیل سیند طبیعي جریان د مصر لوري ته بهېده. مصر معمولاً د اوبو دا جریان خپل حق باله.(starr, 1985) د بېلگې په توگه، ډېری مصري بزگر اوس هم کروندې د غرق آبې یا ډنډ په طریقه اوبه کوي. پر دې سربېره، په سوډان کې د اسوان لوړو بند ۱۹۶۰ پیلیدو وروسته مصري حکومت د ځمکو د احیاء یوه ستره پروژه پیل کړه، چې طبعاً د نیل سیند اوبو ته یې تقاضا په ډېرېدو شوه. (B.GODANA, 1985)

اوس، که څه هم مصر د نیل سیند د اوبو د محدودیت په اړه پوه دی، خو د دغه هېواد نفوس په چټکۍ سره مخ پر ودې دی او دا هېواد اړ دی چې د مصري وگړو او د زراعتي محصولاتو لپاره د ډاډ وړ اوبه تأمین کړي. په ۱۹۸۵م کال کې د مصر بهرنیو چارو وزیر وویل، چې زموږ په سیمه کې به راتلونکې جگړه د نیل پر سر وي نه د سیاست پر سر.(13, 1989) د ۱۹۸۰ لسیزې ۹ کلنه وچکالي د دې سبب شوه، چې د نیل سیندیزې حوزې اوبه د رېکارډ په کچه کمې شي. مصری حکومت اړ دی، چې د ذخیرې اقدامات لا گړندي او جدي کړي او د اسوان بند ته نږدې د کروندې وړ ځمکې کمې کړي ترڅو د زراعتي موخو لپاره اوبه پاتې شي. سره له دې چې په مؤقتي توگه ممکن د ورښتونو له کبله په بند کې اوبه زیاتې شي، لکه په ۱۹۸۸ کې د ورښت له کبله او یا داسې نور. په پورتني نیل کې اوبو ته د اړتیا ډېرېدل د دې سبب کېږي، چې د مصر اغېزمنتیا زیاته شي. په سوډان او ایتوپیا کې د بندونو پروژو او پر مصر یې اغېزې د یادونې وړ

دي. د ويکتوريا جهيل اړوند هېوادونه هم د پراختيا لپاره د اوبو مديريت ته اړتيا لري. کينيا، تانزانيا د زراعتي پروژو پرمختګ لپاره ويکتوريا جهيل اوبو ته سترګې ښخې کړې دي. پر دې سربېره بروندي، رواندا، تانزانيا، يوګاندا په خپلو کې يو نهاد رامنځته کړی چې له ويکتوريا جهيل څخه د مؤثرې استفادې لپاره ګډ کار سره وکړي.(Lwehabura, 2011) د ۱۹۵۹ کال تړون، سره له دې چې ساختار او نهادونه پيشبيني کړي، ليکن د اقليمي بدلونونو په برخه کې په ځانګړې توګه د اوبو د کمښت په حالت کې يې کوم مشخص اقدامات نه دي پيشبيني کړي. همداراز دا تړون يوازې د مصر او سوډان ترمنځ دی، چې هيڅ بل دخيل هېواد يې غړيتوب نه لري. په ورته وخت کې د ايتوپيا او سوډان له لوري په ۱۹۹۱ کې د نيل سيند حوزې اوبو ګډ مديريت په برخه کې يوه معاهده لاسليک کړه، چې ورسره جوخت ايتوپيا د لويو بندونو جوړولو پلان اعلان کړ چې دې چارې مصر وارخطا کړ او حتی د نظامي اقداماتو تهديد يې وکړ. (haftendorn, 2000)

له دي وروسته په ۱۹۹۰ لسيزه کې د نيل حوزې وزيرانو شورا[1] افتتاح شوه. دا په دې حوزه کې د نيل سيند حوزې اقدام لومړنی ابتکار و، چې په ۱۹۹۵ کې وشو. دې ابتکار د مطالعاتي پروژو لپاره په دې حوزه کې ۱۰۰ مليون ډالر بودجه توصيه کړه. په دې سينديزه حوزه کې بل مهم ابتکار دا و، چې د اړوندو سينديزو حوزو د هېوادونو له لوري د کلونو کلونو مذاکراتو او تعاملاتو وروسته د نيل سينديزې حوزې نوښت[2] رامنځته شو.

د نيل سينديزې حوزې نوښت (NBI) د دريو نړيوالو سازمانونو په مرسته نړيوال بانک (WB)، د ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرام (UNDP) او د کاناډا هېواد پراختيايي پروګرام (CIDA) له لوري د ۱۹۹۹ په سپټمبر کې ايجاد او د نيل سيند همکاريو بين المللي کنسرسيوم (ICCON) په لومړنی ناسته ۲۰۰۱ د سويس په ژنيو ښار کې په رسمي توګه اعلان شو.

په نيل سينديزه حوزه کې اړوند توافقات او تنظيمات د کارېدنې محدوديت لري. هيڅ ډول تنظيماتو يې له ۳ زيات هېوادونه نه دي سره راټول کړي او عمدتاً د لاندېنيو ۲ هېوادونو د منافعو د تأمين په موخه رامنځته شوي دي. په لويه کې له اقليمي بدلونونو سره د سازګارۍ کوم خاص ماډل نه لري او همداراز د وچکالۍ پرمهال سره له دې چې د يو مشخص پلان رامنځته کېدل يې

[1] Nile - com
[2] Nile Basin initiative (NBI)

پیشبیني کړي، لیکن تر دا مهاله دا ډول پلان د دولتونو له لوري نه دی تصویب شوی. مهمه لا دا چې دا ډول تنظیمات په خپله د همکاریو د پراختیا پر مخ خنډ دي ځکه چې د دوه اړخیز ماهیت په درلودلو سره د حوزې په کچه د ګډ تفاهم امکانات یې کم کړي او په پایله کې د سیند په کچه د تعامل او اعتماد رامنځته کیدل یې ضعیف کړي دي. مصر او سودان غواړي موجوده وضعیت او پخواني تړونونه حفظ کړي په داسې حال کې چې دا د پورتنیو هېوادونو په ځانګړې توګه ایتوپیا په زیان دی او ایتوپیا په هغه تړون کې د بیاځلي مذاکراتو او بدلونونو غوښتونکی دی.

**ب) د ګنګا سیندیزه حوزه:**

په دې سیندیزه حوزه کابو ۳۵۰ ملیون وګړي تړلي دي. سرچېنه یې له نیپال غرونو، چین او هندوستان څخه ده، چې له هندوستان بیا وروسته په نورو شاخو تقسیمیږي. Recent) development, 1978(د دې حوزې اساسي شاخه د پیډما سیند ده چې له سویله تر بنګله‌دیش پورې غځېدلې ده. د نیل سیندیزې حوزې په شان دا حوزه هم په پراخه کچه موسمي ده. له جون تر اکتوبر میاشتې موسمي ورښتونه په دې حوزه کې د جریان رامنځته کېدو او د مهالنیو سېلابونو سبب کیږي. په ۱۹۸۷ کال کې د دغو سېلابونو په نتیجه کې ۶۰۰ کسان ووژل شول او ۱،۵ ملیون نور هغه بې‌ځایه او اغېزمن شول. همداراز په ۱۹۸۸ کال کې سېلابونو پراخې ویجاړۍ رامنځته کړې. په کوم وخت کې چې بنګله‌دیش په فوق العاده توګه اوبو ته اړتیا لري په دې سیند کې اوبه په ډراماتیکه توګه کمیږي. هند هم په ورته توګه له سېلابونو او وچکالۍ اغېزمن دی، لیکن دا چې بره پروت هېواد دی اغېزمنتیا یې کمه ده. د بېلګې په توګه، هند په ۱۹۷۰ لسیزه کې په فراکا سیمه کې د اوبو یو بند جوړ کړ، چې د هند او بنګال له کرښې ۱۱ مایله لرې و او وتوانید چې یو کانال له دې سیند څخه بجیراتي سیند ته وصل کړي.(note, 2011) بنګله‌دیش له دې پروژې سره مخالفت وښود او دا یې د خپلو زراعتي محصولاتو لپاره د خطر زنګ وباله. دغه هېواد ادعاء وکړه، چې دا پروژه د بنګال خلیج مالګینتوب د ځمکې لاندې اوبو ته وړي او په دې توګه د هغه هېواد کښتۍ چلونه، کب نیونه، ځنګلات، صنعت، صحت سکتور او ایکالوژي اغېزمنوي. دا چې ډېری برخه یې په تاریخي لحاظ د هند په خاوره کې پرته ده، نو ځکه هند په تاریخي لحاظ له دغه سیند سره داسې چلند کوي چې یو هندی سیند دی نه بین المللي سیند او

ټینګار یې کاوه چې هند حق لري په دغه سیند کې یو اړخیز اقدامات ترسره کړي. دا چې د دواړو هېوادونو اړیکې په تاریخي لحاظ سره اوبدلې دي نو له ستونزو او مشکلاتو سره سره په دې وتوانیدل چې په ۱۹۷۳ کې د ګډو اوبو په اړه یو مشترک کمیسون (IBJRC) جوړ کړي. (note,. 2011)مګر په ۱۹۷۶ کې د فراکا بند ترلو مذاکرات یې ناکام شول او بنګله‌دیش د ملګرو ملتونو په غونډه کې خپل شکایت په دې اړه ثبت کړ. د ملګرو ملتونو عمومي اسامبلی په اجماعي فیصله بیانیه صادره کړه، چې له مخې هند اړ شو د مذاکراتو میز ته بیا وګرځي او په ۱۹۷۷ کې یوه لنډمهالې هوکړه ترلاسه شوه.

د دغې هوکړې له مخې په مؤقتې توګه د اوبو تخصیص او اړوند تنظیمات یې رامنځته شول، چې د جنوري تر مې میاشتې پورې وچ موسم رانغاړي. د سند د ضمیمې پر اساس به بنګال مشخصې مقدار اوبه (د لسو ورځو د جریانونو په بڼه) د جریان شتون پر مهال ترلاسه کولې، البته د اوبو په کمېدو او زیاتیدو بل تخصیص په تناسبي توګه رامنځته شوی و. که چېرې اوبه کمې وي بنګله دیش به د لسو ورځو د سهمیې ۸۰ سلنه اوبه لږ تر لږه ترلاسه کولې. په ټوله کې د نوموړې معاهدې له مخې لاندې خوا ته د لږ تر لږه جریان پرېښودو په اړه اقدامات شوي وو. (Kaye, 1989)د اوبو پر تخصیص سربیره د ۱۹۷۷ کال د تړون له مخې، د نهادیزو تنظیماتو یادونه هم پکې شوې وه. د بېلګې په توګه، په ورځنۍ توګه د اوبو حساب په اړه ګډه تخنیکي کمیټه رامنځته شوې وه، چې د دواړو لوریو تخنیکي متخصصین پکې شامل وو او دې کمیټې خپل راپور په کلنۍ کچه هېوادونو ته وړاندې کاوه او په معاهده کې د تخصیص لپاره د شته میکانیزمونو او تنظیماتو د تطبیق دنده یې پرغاړه لرله. د دې معاهدې له مخې د اختلافاتو د حل او فصل په برخه کې په تسلسل شکل میکانیزم تعریف شوی و. سره له دې د معاهدې له مخې د وضعیت له تغییریدو سره د تطابق په اړه څه پکې نه وو پیشبیني شوي او نه هم د هایدرولوژیکي ډېټا شریکولو په اړه څه پکې راغلي وو. همداراز بله مهمه نیمګړتیا یې دا وه چې د سېلابونو د کنټرول په اړه یې موارد نه وو ذکر کړي، سربېره پر دې، د سیندیز اکوسیستم او اوبو د کیفیت ساتنې مشخص موارد هم پکې نه وو شامل.

د ګنګا سیند اړوند ۱۹۷۷ کال تړون د ۵ کلونو د مودې لپاره منعقد شوی و او د طرفینو د رضایت په صورت کې د هرو وروستیو ۵ کلونو لپاره تمدیدای شوای. سره له دې چې د نوموړې

سینديزې حوزې کميمسون[۱] ته دنده سپارل شوې، چې د وچکالۍ د وضعيت ارزونه وکړي او دې اړه اوږدمهالو ستونزو ته حل‌لار پيدا کړي ليکن په عملي او حقيقي توګه کميسيون نه دی توانيدلی شته ستونزې په دايمي او مؤثره توګه حل کړي. د ۱۹۷۷ کال ګنګا سيند تړون وروسته د هند او بنګله ديش ترمنځ اړيکې ډېرې نه دې غوړېدلې. تړون په ۱۹۸۲ کې د وخت له اړخه ختم شو. په هغه وخت کې اړخونو د تفاهم يادښت[۲] صادر کړ او له مخې يې د ۱۹۷۷ ډېری ضمايم او اسناد بياځلي وغځول. مهمه دا ده چې د ۱۹۸۲ کال يادښت له مخې بنګله ديش هغه تضمين له لاسه ورکړ چې له مخې يې بايد په وچکالۍ موسم کې د جدول مطابق لږ تر لږه ۸۰ سلنه جريان ترلاسه کړی وای.(Islam, 2012) د دواړو هېوادونو ترمنځ په ۱۹۸۵ کې يو بل يادښت امضاء شو چې درې کاله وروسته بيا ختم شو. البته د تړون د شتون په صورت کې هم د دواړو هېوادونو ترمنځ ستونزې او ننګونې پرتې وې. د بېلګې په توګه، په ۱۹۸۳ کې بنګله ديش ادعاء کوله چې له ګنګا سيند څخه يې د جدول مطابق يوازې ۷۱ سلنه حقابه ترلاسه کړې، په داسې حال کې چې هند بيا دا ارقام نه منل. د ۱۹۸۵ کال د وچکالۍ پرمهال د بنګله ديش د بهرنيو چارو وزير په اعلاميه کې په ډاګه کړه، چې هند يې په يواړخيزه اقداماتو د حقابې څخه ګرځيدلی او په دې توګه د نړيوالو اصولو او حقوقو د نقض عمل يې ترسره کړی. (service, 1985) وروسته بيا بنګله ديش او هند پر دې موافقه وکړه چې د وچکالۍ پرمهال به جريان زياتوي؛ خو دا چې څه ډول دا چاره ترسره کړي په دې اړه موافقې ته نه دې رسيدلي. هند په دې اړه د يوه اوږده ۷۵ مايله طول لرونکي کانال د کېندلو وړانديز وکړ، چې برام پوترا سيند له ګنګا سره وصل کړي. (Islam, 2012) هم به يې خروجې دروازې او هم به يې سربند د هند په خاوره کې موقعيت ولري. بنګله ديش له نوموړي پلان سره څکه مخالفت وکړ چې ګواکې هند به د باجيراتي څمکو خړوبولو لپاره د براهماپوترا سيند اوبه استفاده کړي او همداراز يې ويل چې ممکن دا کانال د بنګله ديش نورې سيمې له شمالي هغو سره د يوځای‌والي څنډ وګرځي او په دې توګه به د بنګال ډېری حاصلخيره سيمې د کښت وړ نه وي او په کال کې به شاوخوا ۲۲۵ مليون ډالره زيان زراعتي

---

[1] IBJRC
[2] MoU

محصولاتو ته واوړي او ۲،۵ مليون وګړي به يې بې ځايه شي. مګر هند برعکس ادعاء کوله چې دا چاره به بنګله ديش ته لا ډېره د خړوب وړ ځمکه په واک کې ورکړي او دا راز بنګله ديش په ټوله کې د براهما پوترا او ګنګا څخه ډېرې اوبه اخيستل غوښتل او دا چاره يې د بنګال خليج څخه رامنځته کېدونکي مالګينتوب سره په مبارزه کې اړينه بلله. بنګله ديش غوښتل د وچکالۍ پرمهال د ګنګا سيند د اوبو د زياتوالي په برخه کې اوږدمهاله حل‌لار پيدا کړي او د سيند په بره سيمو هند او نيپال کې يې د لا ډېرو بندونو جوړولو غوښتنه وکړه، چې له يوې خوا به سېلاب کنټرول کړي او له بل لوري به د ورښتونو په موسم کې اضافي اوبه ذخيره کړي او بيا به د وچکالۍ پرمهال لاندې سيمو ته جريان مومي. هند يې په ځواب کې ويل، چې د هند په خاوره کې په بره پرتو سيمو کې د بندونو جوړولو يوزاې محدود ځايونه[1] دي او د نيپال ساحه يې د حوزوي صلاحيت[2] برخه نه ده. په هر صورت، نيپال به د خپلو سيندونو اوبه چې ډېرې نيپاليان ورپورې تړلي د،ي همداسې تسليم نه کړي. هند او بنګله ديش له ستونزو سره سره بيا وتوانيدل د ۱۹۹٦ کال په اواخرو کې يوه معاهده لاسليک کړي چې دواړه لوري د يوه پېچلي فورمول په اړه سره سلا شول. د اوبو جريان په کم وخت خصوصاً د جنوري له لومړۍ تر مې ۳۱مې نېټې پورې دواړه لوري د ۳۵۰۰۰ مترمکعب في ثانيه د اوبو کچه ساتي، که چېرې اوبه له دې هم ډېرېږي بيا دواړه لوري مکلفيت لري چې د ۱۰ ورځنيو دورو په بڼه دا کچه هماغسې ثابته وساتي. همداراز دا معاهده د سارک سازمان تر چتر لاندې جامع د ستونزو او اختلافاتو رسيدګۍ حل او فصل وړانديز کوي. د معاهدې د امضاء پرمهال د دواړو هېوادونو مشرانو ډېر جدي رضايت ښکاره کاوه ځکه چې دواړو لورو (د هند لومړی وزير ايچ. ډي. ديوي ګوودا او د بنلګه ديش لومړۍ وزيرې شيخ حسينه نږدې او دوستانه اړيکې سره درلودې.(haftendorn, 2000)

خو که د ګنګا سيند اوبه په جامع توګه مديريت کېږي ټول ښکېل ملتونه به ګټه کوي. په وچه کې راګېر نيپال به برېښنا خرڅه کړي. په ورته وخت کې به هند او بنګله ديش هم د سېلابونو له زيانونو خوندي وي، برښنا به ترلاسه کړي او د ځمکو خړوبولو لپاره به په مناسب وخت کې اوبه ترلاسه کوي. ليکن که چېرې ملتونه په رښتيني توګه همکاري سره ونه کړي د ګډ جامع مديريت

[1] Dam points
[2] Jurisdiction

پراختیا چانس کمیږي. بنګله دیش په دې برخه کې د اقلیمي بدلونونو له کبله له سېلابونو، وچکالۍ او د اوبو له کمښت څخه خورا اغېزمن دی. سربېره پر دې، د بحر د اوبو د سطحې په لوړوالي هم دا هېواد ډېر اغېزمنونکی دی ځکه له یو اړخه یې ډېری سیمې تر اوبو لاندې کېږي او له بل لوري په هېواد کې یې د خاوري مالګینتوب کچه ډېرېږي. هند او بنګله دیش دواړه د نفوسو ډېروالي له کبله د طبیعي حوادثو څخه ډېر اغېزمن ښکاري او دا چاره په سیمه کې د لا زیاتو خصوماتو او بې‌ثباتیو لامل کېدای شي.

**ج) د کلوراډو سیندیزه حوزه:**

دا سیندیزه حوزه له وایو مینګ لوړو څخه شروع کېږي، له کلوراډو، اوتاوا او نیو مکسیکو څخه په تېرېدو د نوادا، اریزونا، کلیفورنیا له دښتو څخه تیریږي او د مکسیکو له پولې څخه وروسته د کلیفورنیا خلیج ته بهیږي. (Brown, 2012) دا اوبه د شمالي امریکا سیندیز سیستم په برخه کې د محلي خلکو د زراعتي او معیشتي موخو لپاره خورا اړینې دي. په بره کې پروت متحده ایالات په تاریخي لحاظ کلوراډو سیند خپل ابتدایې او ملي سیند بولي او انجنیران یې هڅه کوي چې بحر ته یې له تویدو مخه ونیسي او ګواکې له ضایع کېدو څخه یې مخنیوی کوي. ځینې مفسرین پر دې باور دي چې کلوراډو نور سیند ځکه نه دی چې ګواکې په دې ۱۴۰۰ مایل طول لرونکي سیند باندې ډېر بندونه او ذخیروي ساختمانونه جوړ شوي چې ټول جریان یې تنظیم کړی.(p.Fradkin, 2011) د کلوراډو سیندیزې حوزې پراختیا د تېرې پیړۍ په اوږدو کې هغه مهال پیل شوه، چې د کلورنیا درې بزګرانو د «ټول امریکا کانال»[1] پروژې په ترڅ کې خپلو وچو خو حاصلخیزه ځمکو لپاره اوبه غوښتې. بزګرانو وار له مخه هم اوبه د کلوراډو سیند څخه د یو سنتي کانال پرمټ راګرځولې وې، لیکن کانال د مکسیکو پر خاوره پروت و. له بزګرانو څخه مکسیکو کابو نیمې اوبه د دې لپاره اخیستې چې ګواکې کانال د دوی په خاوره کې موقعیت لري (Brown, 2012). په ۱۹۲۰ کې د لاس انجلس وګړو هم د کلوراډو سیند څخه د څښاک اوبو او اوبیزې برېښنا تولید په موخه استفاده پیل کړه. د کلوراډو سیند پورتنۍ برخه کې ایالتونو دا وګڼله چې د لاندې پرتو ایالتونو له لوري د اوبیزې چټکې پراختیا له کبله به دا ایالتونه د پخواني

[1] All-American Canal.

تخصیص یا تاریخي استفادې د حق دعوه وکړي او په دې توگه به د راتلونکي لپاره د بره پرتو هېوادونو استفادې ته خطر متوجه کړي. په ۱۹۲۲ کې د سینديزې حوزې پاسني ۷ ایالتونه سره راټول شول او د سینديزې حوزې له اوبو څخه د گټې اخیستنې څرنگوالي په برخه کې یې یو گډ تفاهم رامنځته کړ، چې د پورتنیو او لاندینیو ایالتونو د تخصیص ونډه پکې معلومه کړي. (act, 1921)دوی په خپلو منځونو کې اوبه سره ووېشلې او دا یې گڼله چې گواکې اضافي اوبه به پاتې شي، چې بیا به مکسیکو ته په راتلونکي کې ورکړل شي. د داخلي ایالتونو ترمنځ د تفاهم پرمهال د مکسیکو او متحده ایالاتو ترمنځ د کلوراډو په هکله کومه رسمي معاهدې نه وه لاسلیک شوې. سره له دې چې طرفینو په دې اړه کلونه کلونه مذاکرات کړي وو او د کلوراډو پر سر اختلافات د دواړو ترمنځ د ریو گرندي سینديزې حوزې د اختلافاتو د شتون له کبله تر سیوري لاندې راغلي وو. په ۱۹۲۹ کې متحده ایالاتو مکسیکو ته له دې سینديزې حوزې څخه ۰،۷۵ ملیون اکرفوټ[1] اوبو د ورکړې پیشنهاد وکړ، چې کابو د دوی له شته استفادې سره برابره وه لیکن مکسیکو د دې مقدار ۴ چنده زیاتو اوبو غوښتنه کوله.(Hudndley, 2012) په ۱۹۳٦ کې د هووار بند او په ۱۹۴۲ کې د ټول امریکا کانال پروژې په تکمیل سره امریکا نوموړې سینديزه حوزه په خپل کنټرول کې راوسته. مکسیکو په دې اړه ډېر کم غوراوی درلود او مجبوره شوه چې د مذاکراتو میز ته کښېني او په پایله کې دواړو هېوادونو د کلوراډو ۱۹۴۴ کال تړون امضاء کړ.

له تړون سره سم مکسیکو ته په کال کې ۱،۵ ملیون اکرفوټ اوبه ورکړل شوې، چې د معاهدې د فېکس (تعیین شوي) جدول له مخې به ورته تسلیمېږي. (treaty, 1944) البته د فوق العاده او ډېرو شدیدو وچکالیو پرمهال کله چې د متحده ایالاتو له لوري استفاده کېدونکې اوبه یا کښت لپاره د پام وړ کچه اوبه کمې شي مکسیکو کې به هم په هماغه اندازه کمې اوبه ترلاسه کوي، چې دا مورد تر اوسه نه دي عملي شوی ځکه چې مکسیکو په هر حالت کې خپلې اختصاص شوې اوبه ترلاسه کړې دي. (Gleick, 2010) که چېرې په یو اوبیز کال کې ډېرې اوبه ترلاسه کېږي ممکن مکسیکو تر ۱،۷ ملیون اکرفوټ اوبه ترلاسه کړي لیکن مکسیکو به له ۱،۵ ملیون اکرفوټ څخه د زیات حق دعوه نه کوي او په دې توگه متحده ایالاتو په تړون کې مکسیکو ته

[1] Acre-foot

له اختصاص شویو اوبو څخه علاوه ټولې اوبه د ځان لپاره تخصیص کړې او تضمین کړې یې دي.

د ۱۹۴۴ کال تړون د دواړو هېوادونو ترمنځ د مصرفي استفادې[1] او د سیند ګډه پراختیا باندې ډېر ټینګار کوي. دې دواړو هېوادونو موافقه کړې چې په خاوره کې به یې ذخیروي کارونه، انحرافي ساختمانونه او نور اوبخوړ سهولتونه رامنځته کوي چې له مخې یې مکسیکو ته د اوبو تحویلولو کې سهولت او آسانتیا رامنځته شي. همداراز طرفینو هوکړه کړې چې په لاندینۍ کلوراډو کې د سېلابونو د کنټرول چارې مخکې یوسي چې هر یو یې د جوړونې، عملي کونې او ساتنې مصارف پرغاړه اخلي. (treaty, 1944) د معاهدې له مخې د دواړو لوریو له لوري د اوبو نړیوال کمیسیون او پولې په نوم(IBWC)[2] کمیسون رامنځته شوی، چې د کلوراډو او ریو ګرندي اړوند اوبو سرچینو ګډ مدیریت په هکله موارد لري. د دواړو لوریو مشري، تخنیکي انجنیران/کمیشنران کوي. کمیسون د خپلو چارو د ترسراوي په موخه پراخ واکونه لري، چې د کارونو ترسره کولو لپاره پلانونه او برنامې تنظیموي، عملي او اجرا کوي یې. همداراز کمیسون کولای شي د طرفینو د غوښتنې په صورت کې معلومات راټول او اړوندو برخو کې لازم تصامیم ونیسي.کمیسون کولای شي د اوبو سرچینو اړوند هر ډول اختلافاتو ته رسیدګي وکړي. کمیسون صلاحیت لري چې راتلونکو بدلونونو او وضعیت ته په کتو لازم تصامیم د عیارولو لپاره ونیسي او د صورت جلسې موارد عملي کولو په برخه کې لازم ګامونه اوچت کړي. که چېرې کمیسون د ځینې مواردو په اړه تصمیم نیسي او صورت جلسه رامنځته کوي هغه به حکومتینو ته سپاري او که چېرې په ۳۰ ورځو کې د طرفینو له لوري نه تصویبیږي نو صورت جلسه خود به خود تصویب شوې حسابیږي[3] همداراز د کلوراډو حقوقي رژیم مهمه برخه جوړوي. نوموړې معاهده د سیندیزې حوزې د اکوسیستم په اړه کوم ځانګړي موارد نه لري او نه هم د هغو اوبو د کیفیت په اړه څه پکې ذکر دي، چې مکسیکو ته ورکول کیږي. دا ستونزه هغه مهال جدي شوه کله چې

---

[1] Consumptive uses
[2] International boundary and water commission
[3] The menutes becoming binding except where the specific approval of the two governments is required by any provision of the treaty.id.

متحده ایالاتو له لوري په ۱۹۶۰ کې مکسیکو ته د ورتلونکو اوبو د مالګینتوب کچه کابو دوه برابره ډېره شوه او په دې اړه مکسیکو خپلو بزګرانو ته د اوښتونکو زیانونو لګښت ۱۵۰ ملیون ډالر اعلان کړ.(Bulson, 1975) له کلونو کلونو مذاکرې وروسته طرفین مکسیکو ته د ورتلونکو اوبو کیفیت په اړه یوې هوکړې ته سره ورسیدل. د ۱۹۶۵ او ۱۹۷۲ کلونو ترمنځ امریکا هوکړه وکړه چې مکسیکو ته به لا ډېرې اوبه خوشې کړي چې مکسیکو ته د ورتلونکو اوبو مالګینتوب ومینځي او همدراز متحده ایالاتو ومنله چې د ۲۴۲ صورت جلسې له مخې مکسیکو ته د ورتلونکو اوبو مالګینتوب کچه کنټرول کړي. له هغه راهیسې د مالګینتوب کچه کنټرول شوې او مکسیسکو ته د دغه تفاهم له مخې د اوبو کیفیت هم په نظر کې نیول کیږي. لیکن د مالګینتوب ستونزه به دوامداره وي تر هغې چې د کلوراډو سیند څخه د کرنې لپاره ګټه اخیستل کیږي. د متحده ایالاتو اقدامات د بره پروت هېواد په حیث ډېر مهم دي چې څنګه وکړای شي مسؤلیت واخلي ترڅو له خپلې خاورې څخه تېرېدونکو او مکسیکو (ښکته پروت هېواد) ته د تلونکو اوبو مالګینتوب کچه تر یوې کچې محدوده وساتي. د راتلونکو ستونزو او ننګونو سره د عیارولو په موخه د دواړو ترمنځ شته کمیسیون د ظرفیت لوړول خورا مهمه مسئله ده چې د اقلیمي بدلونونو په شان مسائلو سره ځان متعادل کړي. سره له دې چې یوې مهمې ستونزې د دا ډول پراختیا ستونزه جدي کړې ده هغه د فوق العاده وچکالۍ مسئله ده او په دغه تړون کې د نوموړې وچکالۍ له حالاتو سره د تطابق او په دې اړه کوم موارد نه دي ذکر شوي چې د ورته حالاتو د رامنځته کېدا په صورت کې به څه ډول برخورد کیږي او د کلوراډو سیندیزې حوزې جریان به څنګه تنظیمیږي. یوې څېړنې موندلې چې په راتلونکې کې به په دې سیندیزه حوزه کې د تودوخې درجه لوړیږي چې ورسره به د کلوراډو سیندیزې حوزې جریان ۲۹ سلنه کمیږي. (waggoner, 1983) د سیندیزې حوزې کابو درېیمه حصې اوبو جریان کموالۍ به په سیمه منفي اغېز وکړي ځکه چې وار له مخه دا سیمه په جدي توګه د کلوراډو سیندیزې حوزې په اوبو پورې تړلې ده. متحده ایالات به هڅه کوي چې د فوق العاده وچکالۍ پرمهال په تناسبي توګه مکسیکو ته تلونکی د اوبو جریان کم کړي مکسیکو به په دې اړه اعتراض کوي او یوازې د لنډمهاله ستونزې په توګه یې ممکن وزغمي لیکن د اقلیمي بدلونونو په اړه اوږده مهال لپاره یې تحمل ورته ستونزمن کار دی. ممکن په هر حالت کې مکسیکو ۱،۵ ملیون اکرفوټ خپل حق

وغواړي پرته له دې چې په اوږدمهال کې د مکسیکو جریان څومره اغېزمنېږي. که پایله هرڅه وي د متحده ایالاتو او مکسیکو هېواد دواړو توانایي د یوې رضایت بخشه هوکړې ته د رسیدنې په موخه په شدت سره آزمایل کېږي.

### ۵. د هلمند سیند اوبو تړون او اقلیمي بدلونونه

لکه څرنگه چې مخکې مو هم ذکر کړه اقلیمي بدلونونه او ورپورې تړلي مسائل ټول هغه موارد دي چې د گډو سیندیزو حوزو مدیریت له ستونزو او ننگونو سره مخ کوي. د هلمند سیند تړون هم د نورو سیندیزو حوزو په شان له اقلیمي بدلونونو څخه متأثره دی. دلته موږ هغه موارد څېړو چې په دغه تړون کې د اقلیمي بدلونونو او ورپورې اړوند مسائلو څخه اغېزمنېږي. هلمند سیندیزه حوزه په خاصه توگه د اقلیمي بدلونونو له کبله اغېزمنېږي. په ۱۳۹۵ هـ ش کال کې د اوبو او انرژۍ وزارت د تخنیکي ارزونو له مخې، چې په نوموړو سیندیزو حوزو کې د نصب شویو ستېشنونو د پخوانیو او اوسنیو ارقامو له مقایسې څخه معلومیږي، د دې حوزې جریان کابو ۱۹ سلنه کم شوی. (محمودی س. م.، ۱۳۹٦) په ټوله کې لاندېني مسائل د اقلیمي بدلونونو له کبله په نړیوالو تړونونو کې باید په پام کې ونېول شي تر څو وکولای شو له اقلیمي بدلونونو سره د تړونونو د سازگارۍ کچه وارزو:

۱. د اوبو تخصیص؛ د اوبو د کمښت او زیادښت په وخت کې؛
۲. د اوبو د کیفیت ستونزه؛
۳. د اکوسیستم ساتنې په برخه کې هڅې او په سیندونو کې د لږ تر لږه جریان ساتنه؛
۴. د بحرونو او سیندونو اکوسیستم
۵. د سېلابونو مدیریت.

**لومړی؛ د اوبو د سرچېنو د کموالي او زیاتوالي پرمهال د اوبو تخصیص:**

لکه څرنگه چې مخکې مو هم ذکر کړه هېوادونه اړ دي د اقلیمي بدلونونو له کبله په یوه گډه سیندیزه حوزه کې د اوبو د کمښت او ډېروالي پرمهال د بیاځلي تخصیص یا نوي تخصیص په اړه غور وکړي دا چاره به د هېوادونو ترمنځ د پوله تېرېدونکو اوبو پر سر نانډرۍ راکمې کړي. د افغانستان او ایران ترمنځ د هلمند سیند اوبو ۱۹۷۳ تړون په څلورمه ماده کې وایي: «په هغو کلونو

کې چې د اقليمي پېښو له کبله د اوبو بهير د اوبو د نورمال کال څخه لږ وي او د دهراوود د اوبو پيژندنې دستگاه د اندازې اخيستلو ارقام له تر بحث لاندې مياشتې څخه په مخکينيو مياشتو پورې مربوط بهير د اوبو د نورمال کال د مشابهو مياشتو په نسبت په کم مقدار کې وښيي د دريمې مادې د جدول په څلورم ستون کې مندرج ارقام په هغه تناسب چې د همدغه کال د مخکينيو مياشتو د اوبو واقعي بهير (په دې صورت کې د مخکېنۍ مارچ جريان تر دې بحث لاندې مياشتې پورې) د اوبو يو نورمال کال د مشابهو مياشتو سره لري د همدغه د اوبو کال د راتلونکو مياشتو لپاره تعديليږي او تعديل شوې اندازه د دريمې مادې په مندرجو ځايونو کې ايران ته ورخوشې کيږي. که چېرې د دهراوود د اوبو پيژندنې دستگاه په تر بحث لاندې مياشتې پس د راتلونکو مياشتو څخه په يوه مياشت کې د نورمال کال د مشابهې مياشتې برابرې يا زياتې اوبه وښيي نو تر بحث لاندې مياشتې اوبه د دريمې مادې د جدول له څلورم ستون سره سم ورخوشې کيږي.»
(تړون، ۱۹۷۳ ميلادي)

د نوموړې مادې لومړي پرگراف واضح او منل شوی تفسير دا دی چې که چيرې په دهراوود ستېشن کې د نورمال کال د اوبو په نسبت اندازه شوې اوبه کمې وي په هماغه اندازه د ايراني لوري حقابه هم ورسره کمېږي. د بېلگې په توگه، که چېرې اوبيز کال نورمال وي نو طبعاً د ايراني لوري حقابه شاوخوا ۸۲۰ مليون مترمکعب کيږي خو که چېرې نورمال کال نه وي د غيرنورمال کال په اندازه او په هماغه تناسب د ايراني لوري حقابه کمېږي. يعني ممکن په ځينو حالاتو کې د ايراني لوري حقابه د ټول کال په جريان کې ۳۲۰، ۴۳۵، ٦۷۴ او ...حقابه وټاکل شي. د يادونې وړ ده چې له ايران سره د افغانستان د هلمند سيند د اوبو کميسارانو په ناستو کې تر اوسه هم همدا چلند غوره کيږي.

د هلمند سيند د تړون له مخې د اوبو د زياتېدو په صورت کې د ورکړل شويو اوبو په تخصيص کې توپير نه راځي. د تړون د پنځمې مادې له مخې: افغانستان به داسې اقدام نه کوي چې ايرانی لوری له تړون سره سم له خپلې حقابې څخه کلا يا بعضا محروم کړي ليکن په ورته وخت کې تصريح شوې چې د اوبو زياتېدو په صورت کې او يا په هلمند سيند کې د ايراني لوري حقابې څخه د زياتو اوبو استفاده په مطلقه توگه افغانستان پورې اړه لري. حتی د تړون په متن کې په واضحه توگه اشاره شوې چې ايرانی لوری نه شي کولای د ډېرو اوبو ادعاء وکړي

حتی په هغه صورت کې چې د اوبو نوره اندازه یا زیاتې اوبه د هلمند په ښکتنی دلتا سیمه کې مسیرې هم وي او د ایران تر استفادې لاندې هم راتللای شي. همداراز د تړون دریېمې مادې مندرج جدول کې هم په نورمالو کلونو کې د حقابې مقدار تعیین شوی او په فوق نورمال کلونو کې هماغه د نورمال کال ارقام ښودل شوي. په بل عبارت د معاهدې له مخې موږ په هلمند سیندیزه حوزه کې ۲ ډوله اوبیز کال لرو: نورمال اوبیز کال او غیرنورمال اوبیز کال، چې له دې دا جوتیږي چې د فوق نورمال کال حقابه هم هماغه د نورمال کال حقابه ده.

سربېره پر دې، د هلمند سیند تړون ۲مه ماده په دې اړه داسې صراحت لري: «د هغو ټولو اوبو اندازه چې له هلمند څخه د اوبو په نورمال کال یا د اوبو په مافوق نورمال کال کې د افغانستان له خوا ایران ته ورخوشې کېږي د اوبو په ۲۲ مترمکعب منځني بهیر پورې په ثانیه کې چې د هلمند د دلتا کمېسیون د ۱۹۵۱ کال د فبروری د ۲۸ نېټې د لسمې ګڼې له جدول سره سم د هغه میاشتني ویش مطابق چې د دې تړون د درېمې مادې په دوهم ستون کې ذکر شوی او اضافه پرې باندې د ۴ مترو مکعبو منځني جریان په ثانیه کې چې متناسب د هغه میاشتې جریان سره چې د دې معاهدې د دریېمې مادې د جدول په دوهم ستون کې راغلي او د جدول په درېیم ستون کې ښودل شوي او د افغانستان لخوا د ښه نیت او ورورګلوۍ د روابطو په توګه ایران ته ورخوشې کېږي.» (تړون, ۱۹۷۳ میلادي)

دا ماده په صراحت بیانوي، چې که کال نورمال وي او یا مافوق نورمال ایرانی لوری به هماغه په اوسط کچه ۲۲ جمع ۴ (د حسن نیت په توګه) مترمکعب اوبه په ثانیه کې ترلاسه کوي. همداراز په دې ماده کې د هرې میاشتې د جزیاتو په اړه ویل شوي چې د تړون درېمې مادې په ۲ پرګراف کې یې یادونه شوې ده. د یادونې وړ ده، چې د هلمند سیند اوبو کمیسارانو له ناستو څخه هم معلومېږي چې کابو ۸۵ سلنه کلونه غیرنورمال اوبیز کلونه دي یعني نورمال حالت ته نه دي رسیدلي او ایرانی لوری په حقیقت کې د کمې حقابې مستحق ګرځي.

د تړون له مخې نورمال اوبیز کال هغه دی چې د اکتوبر د لومړۍ نېټې د ورپسې کال د سپټمبر کال تر پایه پورې د ټولو اوبو بهیر د دهراوود د اوبو پیژندنې په دستګاه کې چې د کجکي بند ته د اوبو د ننوتلو له ځایه بر د هلمند په سیند باندې ولاړه ده، څلور ملیونه پنځه سوه نوي زره اکرفوټه

(۴۹۵۰۰۰۰) چې ۵۶۶۱،۷۱۵ مليون مترمکعب اوبه کېږي اندازه شوې وي. سره له دې چې د تړون په ۲مه ماده ج پرگراف کې په کلي توگه نوموړی رقم ذکر شوی او ويلي يې دي چې که چېرې پورتنی مقدار اوبه له دهراوود دستگاه څخه تيرې شوې، کال نورمال دی ليکن د همدې مادې په بل پرگراف کې د مياشتني بهير اندازې ته هم اشاره کړې چې د تړون لومړی گڼه پروتوکوول کې ذکر شوې ده. داسې ښکاري چې دا دوه موارد سره اړيکه لري او يو له بله جدا نه شي تفسير کېدلای. دا چې مجموعي رقم هم د مياشتنيو ارقامو مجموعه ده چې د کال په بېلابېلو مياشتو کې ورښت او د اوبو جريان ته په کتو تسجيل شوی، نو ځکه اړتيا ده چې د متن په تفسير کې دا دواړه سره يوځای شي نه جلا. د هلمند سيند اوبو د کميسارانو په ناستو کې ايراني لوري ويلي چې د دې مادې تفسير يوازې همدا دی چې که چېرې په ټول کال کې په لومړۍ ماده کې ذکر شوی رقم اوبه دهراوود دستگاه ثبت کړي ايرانی لوری د نورمال کال حقابې مستحق گرځي او دا کار د دې لپاره کوي چې د نورمال توب يا غيرنورمالتوب سلنه د خپلې حقابې سره وتړي او د معاهدې خلاف د زياتې حقابې غوښتنه وکړي او همداراز دوی غواړي په دې اساس د لومړۍ گڼه پروتوکول پنځمه ماده کې مندرج جدول له پامه وغورځوي. حال دا چې د دوی دا دريځ په ښکاره توگه له تړون سره تناقض لري.

په ورته وخت کې د اوبو د کمښت په برخه کې د هلمند سيند د اوبو تړون ۱۱ ماده هم په لاندې توگه صراحت لري:

«که چيرې ډاروونکې وچکالي يا د مجبره حالاتو (فورس ماژور) پېښېدل د هلمند دلتا ته په مؤقت ډول د اوبو رسيدل ناممکن کاندي نو د دواړو خواوو کميساران سمدستي مشوره کوي او د مشکلاتو لرې کولو او يا کمولو دپاره عاجل پلان جوړوي او خپلو مربوطه حکومتونو(دولتونو) ته يې پيیشنهادوي».

په پورتنۍ ماده کې څو مهمو مواردو ته اشاره شوې:

لومړی دا چې وچکالي بايد عادي نه وي؛ يعني هغه وچکالي وي چې په ډېرو کلونو کې يو ځل پېښېږي او داسې وچکالي وي چې د هلمند سيند دلتا سيمې ته يا په بل عبارت د چاربرجک ولسوالۍ اړوند کمال خان سيمې او ترې لاندې پرتو سيمو ته اوبه ونه رسيږي. دا موارد ځکه پيشبيني شوي چې پخوا هم داسې شوي دي چې د سختې وچکالۍ له کبله اوبه د هلمند سيند

دلتا سیمې ته نه دي رسيدلې. د تخنيکي ارزونو له مخې، په هلمند سينديزه حوزه کې په هرو لسو کلونو کې يوه معتدله وچکالي او په هرو ۲۵ کلونو کې شديده وچکالي رامنځته کېږي، چې ښه بېلگه يې په ۲۰۰۰ کال کې وچکالي وه چې ايراني لوري ته اصلا اوبه ونه رسېدې او دا چاره د دې سبب شوه چې ايران د طالبانو اسلامي تحريک څخه د ملگرو ملتونو امنيت شورا ته شکايت وکړي چې وروسته يو ايراني پلاوي هم له سيمې څخه لېدنه کړې وه. همداراز ۲۰۲۲-۲۰۲۳ اوبيز کال هم په بې‌سارې کچه وچ و، چې يو ځل بيا د ايراني لوري ناندرۍ راپورته شوې او په پايله کې اسلامي امارت ايراني تخنيکي هيئت ته د هلمند سيند د تړون د لومړۍ گڼه پروتوکول ۵ مادې مطابق د دهراوود ستېشن د ليدنې زمينه برابره کړه، چې پکې په ثانيه کې له ۷ څخه کم مترمکعب اوبه اندازه شوې وې. نو ځکه ويلای شو پورتنۍ ماده هلته د تطبيق وړ ده په کومو شرايطو کې چې اوبه د هلمند سيند دلتا ته ونه رسيږي او په ماده کې يې ورته د ډارونکې (مدهشې) وچکالۍ لفظ کارولی؛

دويم؛ د دې لپاره چې د وچکالۍ اغېزې کمې شي، اړتيا ده د طرفينو کميساران سره کښېني او په دې اړه لازم پلان چمتو کړي تر څو يې اړخونه تصويب کړي. د دې مادې له سياق څخه ښکاري چې طرفين دې په دې اړه تخنيکي حل‌لاره ولټوي نه سياسي لارې چارې. ايراني لوري په تېر کې هڅه کړې دا مسئله له سياسي لارې حل‌اوفصل کړي او دوی ظاهراً ځکه دا کار کاوه چې د وچکالۍ جدي شتون په اړه بې‌باوره وو او فکر يې کاوه چې افغان لوری قصداً او عمداً نه غواړي د ايراني لوري حقابه ورکړي. حال دا چې وروسته دوی ته دا ثابته شوه، چې ستونزه واقعاً تخنيکي ده او تخنيکي لارې چارې بايد د هلمند سيند اوبو د کميسارانو په چوکاټ کې مطرح شي. سره له دې چې د مادې په متن کې يې په صراحت سره د پلان او يا لارو چارو يادونه نه ده کړې چې څه ډول به مطرح کېږي ليکن د دولتونو ترمنځ د ورته ستونزو او مواردو ته په کتو کېدای شي لاندېنې موارد مطرح شي؛

د وچکالۍ اړوند کلونو حقابه په ترکالۍ کې ورکول لکه د امريکا او مکسيکو ترمنځ د رېوگرندي سينديزې حوزې پر سر د ۱۹۴۴ کال تړون له مخې، چېرې چې د هرو ۵ اوبيزو کلونو په دوران کې بايد مکسيکو امريکا ته مشخص مقدار حقابه ورکړي او که کوم پنځه کاله دوران

کې سخته وچکالي وي او ټولې اوبه ونه رسېدې مکسیکو به هغه مقدار اوبه په ترکالي اوبیز دوران کې امریکا ته ورکوي.(Fischhendler, 2004)

بل انتخاب دا کېدای شي، چې د ایران په مرسته د هلمند سیند په پورتنیو سیمو کې ذخیروي بندونه او ساختمانونه جوړ شي. د دغو ساختمانونو گټه به دا وي چې په هغو کلونو کې چې وچکالي ډېره وي او اوبه د ایران او افغانستان ترمنځ سرحد سیمې ته نه رسېږي نو کېدای شي په هماغه بندونو کې اوبه ذخیره او بیا په مناسب وخت کې ورکړل شي؛

ایران کولای شي له افغانستان څخه د تولیداتو په واردولو د مجازي اوبو سوداگرۍ[1] له دې هېواد سره ترسره کړي. هغه توکي او محصولات چې په سیستان کې تولیدیږي، دوی کولای شي له افغانستان څخه یې وپیري او دا چاره په حقیقت کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د مجازي اوبو سوداگري ده. ایران د نړۍ له نورو هېوادونو سره هم ورته تعامل لري.

همداراز د دواړو هېوادونو ترمنځ د گټو شریکولو پر بل میکانیزم هم کار کېدلای شي، چې له مخې یې د اړخونو ترمنځ د همکاریو پراختیا سبب شي.

په هر صورت، په ټوله کې ویلای شو چې د هلمند سیند تړون له مخې د ایراني لوري حقابه ثابته نه ده تعیین شوې، بلکې حداکثر یې تعیین شوی او حداقل یې په دهراوود دستگاه کې اندازه شویو اوبو پورې اړه لري. د تړون له موادو سره سم ایراني لوري په نورمال یا فوق نورمال اوبیز کال کې د ۲۲ جمع ۴ (حسن نیت) مترمکعب في ثانیه اوبو مستحق دی، حال دا چې که چېرې د دهراوود استېشن ارقام کم ښکاره شي په هماغه کچه د دوی د حقابې مقدار کمیږي. د یادونې وړ ده چې د اقلیمي بدلونونو له کبله په هلمند سیندیزه حوزه کې لږ تر لږه د مذاکراتو په چوکاټ کې ویلای شو چې له ۲۰۰۴ زېږدېز کال راهیسي کابو ۸۵ سلنه کلونه غیرنورمال وو یا لږ تر لږه نورمال اوبیز کلونه نه وو.

**دویم؛ د اوبو د کیفیت ستونزه:**

د اوبو کیفیت مسئله تر ډېره په هلمند سیندیزه حوزه کې جدي ستونزه نه ده. له یوې خوا هلمند سیندیزه حوزه کې د صنعت لپاره ډېرې اوبه نه استفاده کیږي ځکه د کرنې لپاره پراخې

[1] Virtual water trade

دښتې د دې سبب کېږي چې افغانستان د هلمند سینديزې حوزې له اوبو څخه د زراعت او دښتو خړوبولو لپاره کار واخلي او له بل لوري افغانستان په مجموع کې داسې صنعتي هېواد نه دی او نه دومره صنعتي فعالیتونه لري چې د سیند اوبه دومره ککړې شي، چې د زراعتي موخو لپاره د استفادې وړ نه وي.

د هلمند سیند تړون دا مسئله په ٦مه ماده کې په لاندې توگه بیانوي:

«افغانستان به داسې اقدام نه کوي چې د ایران حقابه د کرنې لپاره گرد سره له ښېگڼې وځي او یا له صنایعو څخه د راوتلو اوبو په کېمیایي موادو باندې تر داسې حده ولړلی شي، چې په وروستني معمولي فني لارو چارو باندې د سمون وړ نه وي او استعمال یې د مدني اړتیاوو لپاره ناممکن او ضرر ناک شي».

په دې برخه کې لاندې مسائلو ته اشاره کول اړین دي:

لومړی خو د اوبو کیفیت ستونزې د حل مسئله د تړون له مخې یوازې په افغانستان پورې اړه لري او افغانستان یې مکلف کړی چې داسې اقدام به نه کوي چې گواکې ایرانی لوری له خپلې حقابې څخه د زراعتي او مدني موخو لپاره استفاده ونه شي کړای. سره له دې چې د نړیوالو حقوقو د ښو رویو له مخې دا مسئولیت باید په یوه شریکه سیندیزه حوزه کې ټول اړوند دخیل هېوادونه ولري او ټول باید په گډه د اوبو غیرمتعارفې ککړتیا مخنیوی وکړي. خو دا چې افغانستان په دې سیند کې په بره پروت هېواد دی او کابو ۸۵ سلنه حوزه د دې هېواد په قلمرو کې ده نو ځکه تړون دا مسؤلیت یوازې افغانستان ته پرېاښي. له بل اړخه دا چې په کلي توگه افغانستان مسؤلیت یادونه شوې ایران نه شي کولای په دې برخه کې ځان بېمسؤلیته وښیي، د دولتونو ترمنځ د نړیوالو اړیکو او ښو رویو له مخې ایران به لږ تر لږه په دې برخه کې مالي او تخنیکي همکاري کوي ترڅو افغانستان وشي کولای په هلمند سیندیزه حوزه کې د اوبو غیرمتعارفې ککړتیا مخنیوی وکړي؛

دویم دا چې؛ افغانستان د وروسته پاتې هېواد په توگه تر اوسه نه دی توانیدلی چې صنعتي هېواد شي. یعني په عملي توگه تر اوسه افغانستان د صنعتي فعالیت په پایله کې عملاً نه دی توانیدلی چې د هلمند سیندیزې حوزې اوبه په داسې بڼه ککړې کړي چې په لاندې پرتو سیمو

کې دې د استفادې وړ نه وي. لېکن دا چې افغانستان ممکن په راتلونکو وختونو کې د صنعتي کېدو په لور ولاړ شي او بیا عملا اوبه د صنعت لپاره په پراخه کچه استفاده کړي نو ځکه په تړون کې دا مورد راغلی دی. افغانستان د یوه زراعتي هېواد په توګه ډېره هڅه کړې او کوي یې، چې د زراعتي موخو لپاره اوبه په داسې بڼه وکاروي چې کښته پرتو سیمو کې د استفادې وړ ونه ګرځي.

بله مهمه نقطه دا ده، چې د مادې متن ته په کتو د اوبو ککړول هم مطلق نه دي ذکر شوي یعني په ماده کې ویل شوي چې اوبه دې تر دې اندازې ککړې نه شي، چې په کیمیایې موادو باندې په داسې توګه ولړل شي، چې په وروستیو معمولو فني لارو چارو یا تکنالوژۍ د سمون وړ نه وي. د تکنالوژۍ اوسنۍ پراختیا او پرمختګ ته په کتو ډېرې ککړې اوبه هم شونې ده چې تصفیه شي او د زراعتي او مدني موخو لپاره د استفادې وړ وګرځي. نو په دې توګه د تړون له مخې افغانستان یوازې مکلفیت نه لري چې اوبه ککړې نه کړي بلکې د یوه دولت په توګه کولای شي په هلمند سیندیزه حوزه کې صنعتي فعالیتونه په لار واچوي او ممکن اوبه ککړې شي خو په داسې بڼه نه چې اوسنۍ تکنالوژي دې یې تصفیه نه شي کړای او د استفادې لپاره دې مناسبې نه وي. د هلمند سیند په وروستیو څو کلونو کې په جدي کچه له اقلیمي بدلونونو څخه اغېزمن دی او دا سیند یوازې د کال په محدود وخت کې اوبه لري چې هغه هم لوی سېلابونه او جریانونه کېدلای شی په داسې توګه وي چې د هلمند سیند دلتا برخې یا ایران ته ورسېږي. سېلابونه خو په مستقیمه توګه د زراعت لپاره د استفادې وړ نه وي لیکن د سېلابي اوبو ذخیره کولو او رسوباتو تی نشین کولو وروسته کېدای شي نومړې اوبه د زراعتي او نورو مقاصدو لپاره استفاده شي.

په ټوله کې د دې مادې احسن تفسیر داسې کېدای شي، چې دواړه لوري د اوبو ککړتیا د مخنیوي په برخه کې مسؤلیتونه لري سره له دې چې په ماده کې یوازې د افغانستان مسؤلیت ته اشاره شوې لیکن د نړیوالو نورمونو او د معاهدې روح او سیاق ته په کتو ایرانی لوری هم مسؤلیت لري چې له افغان حکومت سره د اوبو د ککړتیا د مخنیوي په برخه کې لازمه مالي، تخنیکي او فني مرسته وکړي او حتی له ککړتیا وروسته د تصفیې په برخه کې هم تلویحا مسؤلیت ته یې اشاره شوې او په مطلقه توګه د افغانستان مسؤلیت د اوبو هر ډول ککړوالي په اړه نه دی ذکر شوی.

**درېيم؛ د اکوسيستم ساتنې په برخه کې هڅې او په سيندونو کې د لېترلېه جريان ساتنه:**

د ځمکې کرې اړوند ۱۹۹۲ کال ناستې د عمل پلان ۲۱ نمبر اجنډا په لاندې اصطلاح پیلېږي: خوږې اوبه د ځمکې بایوسفیر د یوه مهم جزء په توګه د ځمکني اکوسیستم نه جلا کېدونکې برخه ده.(stephen, 2001) دا چې د خوږو اوبو اهمیت د ټولو موجوداتو لپاره اړین دی او یوازې په بحرونو کې نه دي نو ځکه د سیندیزو حوزو چاپېریال ساتنه هم په ملي او هم په نړیواله کچه مهمه ده او هېوادونه باید په دې برخه کې له یو بل سره همکاري او همغږي وکړي.

د پوله تېرېدونکو سیندیزو حوزو په برخه کې په خاصه توګه او په ټوله کې د اوبو اړوند اکوسیستم ساتنې مسئله په عامه توګه ورځ په ورځ مخ پر زیاتیدونکی اهمیت لري او دا موضوع لا زیات اهمیت پیدا کوي. د اکوسیستم ساتنې برخه کې په نړیوالو حقوقو کې هم قواعد شته چې له برلین څخه بیا تر ملګرو ملتونو اړوند ۱۹۹۷ کنوانسیون پورې ټول په دې اړه احکام لري او پکې د سیندیزو حوزو د اکوسیستم ساتنې یادونه شوې ده.

د ملګرو ملتونو اړوند ۱۹۹۷ کال کنوانسیون په ۲۰مه ماده کې وايي: په یوه شریکه سیندیزه حوزه کې اړوند دخیل هېوادونه باید په انفرادي توګه او که اړتیا وي په جمعي بڼه د سیندیزې حوزې اکوسیستم ساتنه او پاملرنه کې ونډه واخلي. (ماده, ۱۹۹۷)

که د هلمند سیند په قضیه کې دا مورد مطالعه کړو ځینو پوهانو د دې ادعاء کړې چې د هامونونو او ایکوسیستم لپاره د ۱۹۵۱ هلمند دلتا بې‌پرې کمیسیون په دې اړه څه نه دي ویلي. توماس او ورز (Naqheeby, 2024) وايي: دا چې د هلمند سیند د معاهدې اساس او بنسټ د هلمند سیند دلتا بې‌پرې کمیسیون دی، چې په ۱۹۵۱ زېږدیز یې کې یې خپلې ارزونې او ملاحظات ایران او افغانستان ته وړاندې کړل او بیا د هلمند سیند معاهدې تخنیکي او انجنیري اساس هم هماغه ومنل شو نو هلته د انجنیرانو له لوري د هامونونو او اکوسیستم مسئله له پامه غورځول شوې ده. سره له دې چې ممکن په هاغه وخت کې د هامونونو او ایکوسیستم اهمیت دومره بارز نه و، او یا کېدای شي په نړیواله کچه دې موضوع ته دومره اهمیت نه ورکول کېده لیکن بیا هم په مختلفو وختونو کې د هلمند سیند دلتا په ځانګړې توګه هامونونو ته اوبه پرېښودل

شوې دي او دا چې هامونونه وچ شوي پر اقليمي بدلونونو سربیره په خپله د ايراني لوري مسؤليت ته ورګرځي چې دوی د انحرافي کانالونو او د هلمند سيند په اصلي مسير خواوو کې د نيمه څاګانو په جوړولو سره عملاً هامونونه وچ کړي دي. د ایران په سیستان کې متأسفانه د اوبو زېربناء او کرنيزو ځمکو له هلمند سيند د ايران هېواد د حقابې په پرتله زياته پراختيا موندلې، په داسې حال کې چې د اقليمي بدلونونو له کبله د ورښتونو کچه او په هلمند سيند کې د اوبو جريان په زياته پيمانه کم شوی. د بېلګې په توګه، د معاهدې مطابق ايران هېواد ته د ٦٠٠٠٠ هکتاره ځمکې د خړوبولو حقابه په نظر کې نيول شوې، خو ايران اوسمهال په سيستان سيمه کې د کرنيزو ځمکو اندازه ١٢٠٠٠٠ هکتاره ته زياته کړې، همدارنګه هامونونو ته چې د ايران هېواد له خاورې د کومو سيندونو اوبه بهېدې، د بندونو په جوړولو سره يې ټول وچ کړي او دغه هامونونه يې عملاً له منځه وړي دي. همدارنګه د ايران د نيمه څاه‌ګانو ظرفيت د ايران د نورمال اوبيز کال د حقابې تقريباً دوه نيم برابره زيات دی. پکار دا وه چې ايران د خپلې حقابې متناسب خپلو اوبيزو زېربناوو ته پراختيا ورکړې وی، خو متاسفانه ايراني لوري د افغانستان له ناوړه او بې‌ثباته وضعيت ګټه اخيستې او د افغانستان له موافقې پرته يې خپلو زېربناوو ته پراختيا ورکړې، چې اوسمهال د اوبو او ورښتونو د کمښت له امله د هلمند سيند د اوبو د کمېدو په صورت کې دغه زېربناوې له خطر سره مخ شوې او ايران هېواد يې مسؤليت په غير اصولي توګه افغانستان ته راجع کوي او د دې پرځای چې پر خپلې اشتباه اعتراف وکړي، افغانستان ته د انتقاد ګوته نيسي. همداراز ايران هېواد سيستان سيند ته د هلمند سيند د اوبو له بشپړ انحراف وروسته د دغو اوبو د ذخيره کولو او تنظيمولو لپاره د نيمه څاه ګانو په نامه د اوبو څلور سترې ذخيرې جوړې کړې چې د ټولو ظرفيت يې کابو ٢ مليارد متر مکعب ته رسېږي. ايران د دغو څاه ګانو اوبه حتی د زاهدان ښار چې ډېر لرې پروت دی، د اوبو تأمينولو لپاره استفاده کوي. د دغو نيمه څاه‌ګانو ظرفيت د معاهدې مطابق په نورمال اوبيز کال کې د ايران هېواد د حقابې کابو دوه‌نيم برابره زيات دی، چې ښيي ايران له هلمند سيند څخه د خپلې حقابې د څو برابره زياتو اوبو د ترلاسه کولو لپاره چمتوالی لرلی دی.

په پای کې ویلای شو، سره له دې چې د افغانستان او ايران ترمنځ د هلمند سيند تړون کې د اکوسيستم او هامونونو مسئله له پامه لوېدلې ليکن د دغو هامونونو وچېدو او په سيمه کې د ناوړه اکوسيستم وضعيت د پورتنيو دلايلو پرمټ ډېرته ايراني لوري ته ورګرځي.

**څلورم؛ د سېلابونو مدیریت:**

د هلمند سیندیزه حوزه د هېواد په کچه یو له هغو حوزو څخه ګڼل کېږي چې سېلابونه پکې جریان مومي. په دې وروستیو کې د اقلیمي بدلونونو په پایله کې دا چاره لا ګړندۍ شوې او د دواړو لوریو مسؤلیت یې طبیعتاً ارزښتمن کړی دی. په تاریخي لحاظ هم دا حوزه د لویو سېلابونو شاهده وه په داسې توګه چې په ۱۸۹۶ زېږدیز کال کې یو لوی سېلاب رامنځته شو او د نادعلي پرځای د هلمند سیند، یو بل مسیر د غرب په لوري هم رامنځته کړ، چې وروسته د دواړو لوریو ترمنځ د ستونزې رامنځته کېدو سبب شو او په پایله کې د انګلیس دویم حکمیت مکماهن دې مسئلې ته رسیدګي وکړه. (ریاست, ۱۴۰۰)

په هلمند سیند کې د سېلابونو د مدیریت موضوع یو له مهمو مسئلو څخه ده چې مسؤلیت یې یوازې افغانستان ته نه دی راجع، بلکه ایران هم په دې برخه کې مسؤلیت لري ځکه چې طرفین په مشترکه توګه دواړه ورڅخه اغېزمنېږي. دا چې افغانستان په دې حوزه کې لکه د ټولو حوزو په شان کافي د اوبو ذخیره کولو زیربناء نه لري نو ځکه ورڅخه ډېر اغېزمن دی لیکن دا په دې معنی نه ده چې له سېلابونو څخه ایران نه شي اغېزمنیدلای. په تاریخي لحاظ هم که وګورو په وار وار ایران او افغانستان دواړه ورڅخه متضرر شوي دي.

لکه مخکې مو چې وویل له بده مرغه د هلمند سیند له ۲۰۱۷ کال راهیسې په مطلقه توګه دایمي جریان نه لري او یوازې د کال په محدودو ورځو او میاشتو کې سېلابي جریان لري چې ارزونو ته په کتو دا لړۍ به په راتلونکي کې لا چټکه شي او د نه پاملرنې په صورت کې به دواړه لوري ورڅخه کافي زیانمن شي.

سره له دې چې د افغانستان او ایران ترمنځ د هلمند سیند تړون کې د سېلابونو د مدیریت موضوع ته اشاره نه ده شوې، خو د هلمند سیند دلتا راپور کې ځای ځای دا مسئله یاده شوې او په دې اړه یې تاریخي آمار او ارقام را اخیستې دي. همداراز په دغه راپور کې په ۱۰۵ ماده کې د فوق العاده خطرناکو سېلابونو یادونه هم شوې، چې په ۱۸۸۵، ۱۸۹۶، ۱۹۳۹ او۱۹۵۶ (ریاست, ۱۴۰۰) کلونو کې رامنځته شوي وو، مګر د ګډ مدیریت او دې ستونزې ته د رسیدګۍ په اړه یې څه نه دي ویلي. په وروستیو کلونو کې هم موږ د فوق العاده زیاتو سېلابونو د راتګ شاهدان

وو، چې ایراني لوري په لومړي سر کې مرسته نه کوله او دا چاره یې په یوازېخیزه توګه د افغانستان مسؤلیت باله. په داسې حال کې چې د نړیوالو حقوقو له مخې په یوه ګډه سیندیزه حوزه کې اړوند ټول دخیل هېوادونه مسؤلیت لري چې سېلابونو مؤثر او غوره مدیریت په موخه سره کښېني او حل‌لار ولټوي. د ملګرو ملتونو ۱۹۹۷ کال کنوانسیون د سیندیزې حوزې ناوړه وضعیت مدیریت تر عنوان لاندې په ۲۷مه ماده کې کاږي چې غړي هېوادونه مکلفیت لري په انفرادي او جمعي شکل د هغو فعالیتونو مخنیوي کې له یو بل سره کمک او مرسته وکړي چې یو بل ته زیان رسوي که دا طبیعي وي لکه سېلاب او .. اویا د انساني عمل په نتیجه کې رامنځته شوي وي. (ماده, ۱۹۹۷) لېکن ایران د تاریخ په اوږدو کې له خپل دغه مسؤلیت څخه سر غړولی او په ترسره کولو کې یې له افغانستان سره مؤثره مرسته نه ده کړې. د بېلګې په توګه، په ۲۰۱۹ کال کې کله چې په هلمند سیندیزه حوزه کې یو لوی سېلابي جریان رامنځته شو او نږدې وه چې په دلتا سیمه کې زرنج ښار له منځه یوسي په وار وار د اوبو او انرژۍ وزارت د اوبیزو سرچینو رئیس د ایراني لوري کمیسار معاون څخه وغوښتل چې د کوهک دروازې خلاصې کړي ترڅو د سېلاب یوه برخه هغه لوري ته هدایت شي او د زرنج ښار وژغورل شي لیکن ایراني لوري ورته د استهزاء په توګه وویل: «این مشکل خود تون است». (چارواکی, ۱۴۰۱) د افغانستان له لوري د کمال خان بند جوړېدل د سېلابونو د مدیریت لپاره یو ښه اقدام و، چې په دلتا سیمه کې د لویو سېلابونو د زیانونو د مخنیوي په موخه او همداراز د ایران هېواد د حقابې تنظیم په موخه جوړ شو. د دې بند په جوړېدو سره د سېلابونو د مدیریت ستونزه تر یوه بریده حل شوې لیکن په اساسي توګه اړتیا لیدل کېږي چې دواړه لوري د سېلابونو د مدیریت لپاره مؤثر او ګډ میکانیزم رامنځته کړي ترڅو اړخونه یې له زیان څخه خوندي وي.

**پنځم؛ د تغییر او اصلاح پروسیجر واضح کول:**

حتی که چېرې د یوې ځانګړې سیندیزې حوزې د هایدرولوژیکي ډینامیک په اړه کافي پوهاوی رامنځته شوی هم وي، وضعیت او شرایط بیا هم تغییرېدای شي. د نفوسو چټکه وده او اقتصادي پراختیا د اوبو د سرچینو لپاره تقاضا لا پسې ډېروي نو ځکه اړتیا وي، چې د اوبو د کیفیت نوي معیارونه تصویب شي. د علمي پوهې پراختیا او تکنالوژیکي قابلیتونو په پرمختګ سره نوې اړتیاوې رامنځته کېږي. د اکوسیستم په اړه اجتماعي انګېرنه تغییر کوي. سربېره پر دې،

اقليمي بدلونونه په يوه سينديزه حوزه کې پر هايدرلوژيکي سايکل ژورې او اساسي اغېزې کوي او د توقع خلاف چټک او ژور بدلونونه رامنځته کولای شي. د پورتنيو ستونزو د حل لپاره اړتيا ده چې د پوله تېرېدونکو سينديزو حوزو په تړونونو او حقوقي تنظيماتو کې د اقليمي، اجتماعي، اکولوژيکي او اقتصادي شرايطو سره د سمون او تطابق په موخه د حقوقي چوکاټونو د تغيير او اصلاح ميکانيزم موجود وي. د بېلګې په توګه، په کلوراډو سينديزه حوزه کې په تړون کې اصلاح او تغيير د صورت جلسې په ترڅ کې ترسره کېږي چې وروسته د اړوند ټولو ذيدخلو هېوادونو له لوري تصويبيږي. له ۱۹۲۲ کال راهيسي په دغه تړون کې تر اوسه ۳۳۱ اصلاحيې د صورت جلسو په بڼه تأييد شوې دي. همداراز معاهداتو کې داسې موارد هم ذکر کېدای شي، چې د اصلاح لپاره يو جلا ساختار لکه د سينديزو حوزو سازمانونه په تړونونو کې د تغيير او اصلاح مسؤليت پرغاړه واخلي.(Mc Caffrey, 2003)

د افغانستان او ايران ترمنځ د هلمند سيند تړون مقدمه وايي: «د افغانستان او ايران دولتونو ترمنځ د هلمند(هيرمند) د سيند د اوبو به باره کې د تل د پاره د اختلاف د ټولو اسبابو د لرې کولو په هيله او د خپلې ښې ورورولۍ او ګاونډېتوب او د نړيوالو اړيکو د ساتنې له کبله اراده وکړه چې په خپل منځ کې يو تړون وکاندي».

همداراز د تړون د لسمې مادې له مخې افغانستان او ايران دا مني چې دا تړون د دواړو دولتونو ترمنځ د کامل او دائمي موافقت ښکارندويي کوي. د دې تړون محتويات يوازې د تړون د محتوياتو په حدودو کې دننه اعتبار لري او د هيڅ يو موجود يا راتلونکي اصل (پرنسيپ) يا سابقې (پرسدنټ) تابع نه دی. سربېر پر دې، د لومړۍ ګڼه پروتوکول ۱۲مې مادې له مخې هم هر ډول تعديل، تغيير يا تجديد نظر چې په دغه پروتوکول کې د طرفينو په خوښه رامنځته شي، په هيڅ صورت پر تړون او ۲مه ګڼه پروتوکول اثر نه لري. د دغو مادو له متن او دا چې په صريحه توګه په تړون کې د تغيير او اصلاح په اړه څه نه دي ويل شوي، داسې ښکاري چې تړون په دې برخه کې سخت چلند غوره کړی او نرم خاصيت نه لري. لېکن د تړون له ځينې مواردو څخه ښکاري چې په ضمني توګه په تړون کې د ځينو مواردو په اړه اصلاحات او بدلونونه راتللای شي. لومړی خو دا چې د تړون په ۸مه ماده کې د طرفينو يو ګډ کميسيون پيشبيني شوی چې دا

په خپله له بدلونونو سره تطابق لپاره یو ګام دی. له بل لوري د تړون ضمیمه لومړی نمبر پروتوکول هم د کمیسارانو واک او وظائفو په اړه دی، چې له مخې یې طرفین له لوړ رتبه مامورینو څخه کمیسار او معاون معرفي کوي او د تړون پلي کېدو په برخه کې اقدامات ترسره کوي.

د هلمند سیند د تړون د ۱۱مې مادې له مخې هم که چېرې سخته وچکالي یا د مجبره حالاتو (فورس ماژور) پېښېدل د هلمند دلتا ته په مؤقت ډول د اوبو رسیدل ناممکن کړي، نو د دواړو خواوو کمېساران سمدستي مشوره کوي او د مشکلاتو لرې کولو او کمولو په موخه عاجل پلانونه دولتینو ته د تصویب په موخه وړاندې کوي. له دې مادې هم ضمناً معلومیږي چې کمیساران کولای شي په ځینو مواردو کې نوې طرحې او پلانونه چې د اجتماعي، اقتصادي، چاپېريالي بدلونونو له کبله رامنځته شوي وي، د اړوند دولتونو له تصویب څخه وروسته اجراء کړي.

بله دا چې تړونونه په مجموع کې د دولتونو یا لوړ حاکمیت لرونکو اجزاوو ترمنځ د ګډې ارادې رامنځته کول دي چې طرفین کولای شي پکې تغییر، اصلاح او تجدید راولي. د معاهداتو په اړه د ویانا ۱۹۶۹ کال کنوانسیون هم په دوه اړخیزو او څو اړخیزو معاهداتو کې تغییر او اصلاح راوستلو ته اشاره کوي او له مخې یې طرفین کولای شي په داسې توګه په معاهداتو کې تغییر راولي چې د معاهدې هدف او موضوع سره ټکر ونه لري. د عامو نړیوالو حقوقو له نظره هم افغانستان او ایران کولای شي د دواړو اړخونو له موافقې سره په تړون کې داسې اصلاح او تغییر راولي، چې له نویو رامنځته شویو او یا رامنځته کېدونکو اقتصادي، اجتماعي او چاپېريالي بدلونونو سره د تطابق لپاره مؤثر وي.

## ٦. پایله

تمه ده چې اقلیمي بدلونونه به په نړیواله کچه د خوږو اوبو پر سرچینو پراخ او ګڼ اړخیزه اغېزه ولري. د اوبو کیفیت، کمیت، عملیاتي کوني سیستمونه او د اوبو حکومتولي ننګوي. هغه هېوادونه چې اوبیزې سرچینې یې د سیاسي پولو دننه پرتې وي بیا هم تر یوې کچې له اقلیمي بدلونونو سره سازګاري او تطابق ورته سخت کار دی، لیکن که چېرې دغه سرچینې له نورو هېوادونو سره شریکې وي او له سیاسي پولو یې بهر ځي نو بیا به ورته پایښت لرونکی د اوبو مدیریت او تنظیم ورته کافي ستونزمن کار شي.

عرفي بین المللي حقوق په یوازې توګه د بین المللي اوبو د مدیریت په اړه په ځانګړې توګه د اقلیمي بدلونونو په درشل کې د اوبو د مدیریت لپاره کوم ځانګړی لارښود نه لري لکه څنګه چې د نړیوالو حقوقو کمیسیون ځانګړی راپورټر وايي د یوې ځانګړې سیاسي ستونزې د حل په موخه مشخص حقوقي قواعد نشته، نو ځکه دا په حقیقت کې هماغه نړیوالې معاهدې او د اوبو د تنظیماتو ګډ حقوقي تنظیمات دي، چې له نویو رامنځته کېدونکو بدلونونو سره د سازګارۍ په موخه اصول او قواعد رامنځته کوي. دا چې خوږو اوبو ته د لاسرسي پر سر ممکن په راتلونکو وختونو کې د هېوادونو ترمنځ منازعات او شخړې جدي پړاو ته داخلې شي نو ځکه اړتیا ده چې هېوادونه په دې برخه کې د اقلیمي بدلونونو په شمول هر ډول بدلونونو سره د تطابق په موخه لاس پکار شي.

د چارو کارپوهان وايي: سره له دې چې هېوادونه نه شي کولای د اقلیمي بدلونونو په بهانه په یواړخیزه توګه له نړیوالو تړونونو څخه ووځي او یا د خپلو مسؤلیتونو له اجراء څخه ډډه وکړي لېکن هغه څه چې کېدلای شي په تړونونو کې له اقلیمي بدلونونو سره د تطابق د میکانیزمونو ځای پرځای کول دي. هېوادونه اړ دي چې په یوه ګډه سیندیزه حوزه کې د اوبو تخصیص انعطاف منونکې ستراتیژۍ ځای پرځای کړي په داسې توګه، چې که چېرې اوبه زیاتېږي د هېوادونو حقابه هم زیاتېږي او د اوبو د سرچینو د کمښت پرمهال په هماغه تناسب د هېوادونو لپاره د اوبو د تخصیص کچه هم باید کمه شي. همداراز اړتیا ده چې له اقلیمي بدلونونو سره د مؤثرې مبارزې او د پوله تېرېدونکو اوبو پر حقوقي تنظیماتو او تړونونو د اغېزو راکمولو لپاره په دغو تړونونو کې د وچکالۍ او سېلاب موارد ځای پر ځای شي. د وچکالۍ او سېلابونو د مدیریت لپاره په تړونونو کې مؤثر میکانیزم تعریف او په دې برخه کې د اطلاعاتو، آمارو، ارقامو او معلوماتو شریکول خورا اړین دي. پر دې سربېره، هېوادونه باید په تړون کې د اصلاح او تغییر پروسیجر واضح او آسانه کړي ترڅو له شرایطو سره د عیارولو په برخه کې مؤثر پریوځي. په یوه پوله تېرېدونکې سیندیزې حوزه کې د شریکو هېوادونو ترمنځ د سیندیزې حوزې ګډ مدیریت او ښه حکومتولي خورا مهم بحث دی چې باید ورته پام وشي. د کلوراډو، ګنګا او نیل سیندیزې حوزې موډلونو په تحلیل دې پایلې ته رسېږو چې په نوموړو سیندیزو حوز کې شریک هېوادونه

لا هم نه دي توانيدلي، چې له اقليمي بدلونونو سره د عيارولو او تطابق مؤثر ميکانيزم په خپلو تړونونو کې ځای پرځای کړي. د نوموړو تړونونو له مخې ټولو موافقتنامو د فېکس (ثابت) اوبو تخصيص رامنځته کړی، پرته له گنگا ۱۹۷۷ موافقتنامې څخه. همداراز سره له دې چې له لنډمهالو ستونزو سره د مخ کېدو لپاره حل‌لارې لري لېکن هيڅ يو تړون هم د اوږدمهالې او اغېزناکې حل‌لارې په اړه څه نه وايي او نه په دې اړه کوم واضح او جامع ميکانيزم شته. همداراز هېوادونه په دې کې پاتې راغلي، چې د وچکالۍ د جامع تعريف په اړه سره هوکړې ته ورسېږي هغه څه چې له دوی سره د ستونزې په کمښت او يا حل کې مرسته کولای شي. سربيره پر دې، په دغو تړونونو کې د لږ تر لږه جريان پرېښودلو په اړه هم څه نه دي راغلي، يوازې په ۱۹۷۷ کې گنگا تړون کې دغه مورد ته اشاره شوې وه، چې وروسته دا هم د هند او بنگله ديش ترمنځ د تړون له مخې له منځه ولاړ. نوموړي تړونونه د اوبو د کيفيت ساتلو په اړه هم خاص موارد نه لري او د ايکوسيستم ساتلو په برخه کې ځواب ويلو په اړه هم دا چوکاټونه پاتې راغلي دي.

د هلمند سيند د اوبو تړون د افغانستان او ايران ترمنځ په ۱۹۷۳ زېږدېز کال کې په داسې وخت او شرايطو کې لاسليک شوی چې هغه مهال اقليمي بدلونونو او د اکوسيستم ساتنه د هېوادونو لپاره لويه اندېښنه نه وه. د دغه تړون عمده هدف دا دی چې په هلمند سيندېزه حوزه کې، چې کابو ۸۵ سلنه د افغانستان په خاوره کې موقعيت لري، د ايران لپاره حقابه وټاکي. د تړون له مخې، کال په نورمال او غيرنورمال اوبيز کلونو وېشل شوی، چې د نورمال اندازه کېدو شاخص هم په دهراوود کې (د افغانستان او ايران له پولې څخه کابو ۷۲۵ کېلومتره لرې) د مشخص مقدار اوبو اندازه کېدل ښودل شوي دي. افغانستان اړ دی چې په نورمال اوبيز کال کې د ايران لپاره تقريبا ۸۲۰ مليون مترمکعب اوبه ورکړي او د غيرنورمال کلونو پرمهال د ايراني لوري حقابه د دهراوود سټېشن د اندازه شويو ارقامو له مخې په هماغه تناسب کمېږي. د يادولو وړ ده، چې له ۲۰۰۴ کال راهيسې د افغانستان او ايران ترمنځ د هلمند سيند اوبو د کمېسارانو په چوکاټ کې کابو ۸۵ سلنه اوبيز کلونه غيرنورمال ارزول شوي دي. همداراز د فوق العاده وچکالۍ پرمهال هم د هلمند سيند د تړون ۱۱ مادې له مخې د طرفينو کميساران سره کېنې او دولتينو ته د تصويب لپاره حل‌لاره وړاندې کوي. د اوبو د کيفيت په اړه يوازې په تړون کې دومره ويل شوي چې افغانستان به داسې اقدام نه کوي چې په کلي توگه لاندې پرتو سيمو کې د ايراني استفادې لپاره اوبه د کښت وړ ونه

گرځي. دا چاره په اوس وخت کې دومره اړینه ځکه نه ده، چې له یوې خوا افغانستان په کلي توگه په هلمند سیندیزه حوزه کې دومره په پراخه کچه صنعتي فعالیتونه نه لري، چې د هلمند سیند اوبه ډېرې ککړې کړي او له بل لوري په تړون کې دا چاره مشروطه ښودل شوې او ویل شوي، چې په داسې توگه به اوبه نه ککړوي چې د معمولو او مروجو تکنالوژیو پرمټ اوبه تصفیه نه شي. حال دا چې د اوسنۍ ټکنالوژۍ پرمټ تورې اوبه هم په داسې ښه تصفیه کېدای شي، چې د کرنې لپاره د استفادې وړ وگرځي. د سېلابونو د مدیریت په اړه سره له دې چې په تړون کې په صریحه توگه څه نشته، خو په تاریخي لحاظ په هلمند سیندیزه حوزه کې موږ د خطرناکو سېلابونو شاهدان وو، چې د هلمند سیند تړون په دلتا کمیسیون کې یې هم یادونه شوې ده لېکن له بده مرغه ایراني لوري د سېلابونو د مدیریت پرمهال له افغانستان سره کومه ځانگړې مرسته نه ده کړې او افغانستان له ښه مرغه له ۲۰۲۰م کال راهیسې د کمال خان بند په جوړولو سره توانیدلی چې زرنج او ښکتنه پرتې سیمې حتی د ایران –سیستان برخه هم د سېلابونو له وېجاړیو وژغوري.

## ۷. وړاندیزونه

- **د پوله تېرېدونکو سیندیزو حوزو په اړه د معاهداتو او حقوقي تنظیماتو رامنځته**

**کول:** لومړی خو اړتیا ده چې د پوله تېرېدونکو اوبیزو سرچېنو په اړه د هېوادونو ترمنځ معاهدات او حقوقي تنظیمات رامنځته شي. لکه مخکې مو چې هم یادونه وکړه په لویه کې د نړۍ ډېری پوله تېرېدونکې سیندیزې حوزې حقوقي چوکاټ نه لري او نه هم د اړوندو هېوادونو ترمنځ کومه معاهده شته؛ او که کومې معاهدې هم د دولتونو ترمنځ وي هغه هم ډېری یې تر ځمکې لاندې اوبېزې سرچینې نه رانغاړي نو اړتیا ده مخکې له دې چې په یوه شریکه حوزه کې د هېوادونو ترمنځ منازعات او شخړې رامنځته شي باید په اړه یې حقوقي چوکاټ تعریف او مؤثر تنظیمات رامنځته شي؛

- **د نړیوالو کنوانسیونونو په ځانگړې توگه د ملگرو ملتونو د کنوانسیونونو تصویب:**

سره له دې چې په شریکو سیندیزو حوزو کې د حقوقي چوکاټ او تنظیماتو رامنځته کولو مسئله خورا مهمه او اړینه ده لیکن په نړیواله کچه سیاسي او مالي محدودیتونه شته چې له اقلیمي بدلونونو سره د دغو تنظیماتو د سازگارۍ مخه نیسي. ځکه د هېوادونو لپاره ډېره اړینه ده چې

نړیوال حقوقي چوکاټ تصویب کړي تر څو د راتلونکو بدلونونو په ځانګړې توګه اقلیمي بدلونونو سره د تطابق لپاره واضح او مشخص تعریف او حدود وټاکې. سره له دې چې د ملګرو ملتونو له لوري د ۱۹۹۷ کنوانسیون په ۲۰۱۴ زیږدیز کال کې نافذ شو لېکن تر اوسه ډېریو هېوادونو په ځانګړې توګه لویو قدرتونو نه دی تصویب کړی او اړتیا ده چې دا چاره سرتاسري شي ترڅو د نړیوال حقوقي چوکاټ پرمټ نوموړې ستونزې حل او یا لږ تر لږه کمې کړي؛

- **د شته معاهداتو او حقوقي تنظیماتو کاري ساحه پراخول:** دا چې اقلیمي بدلونونه د اوبو سرچینې په ځانګړې توګه د اوبو هایدرولوژیکي دوران په خورا پیچلي بڼه اغېزمنوي او همداراز په نړیواله کچه که ولیدل شي د پوله تېرېدونکو سیندیزو حوزو په معاهداتو کې د اوبو کیفیت او سېلابونو مسئله په عامه توګه له یاده وتلې مسئله ده نو ځکه اړتیا ده چې د شته حقوقي تنظیماتو او معاهداتو لمن پراخه شي په ځانګړې توګه ټول هغه موارد راونغاړي چې د هایدرولوژیکي دوران عناصر جوړوي. په دې برخه کې د اوبو د سرچېنو جامع او هراړخیز مدیریت (IWRM) یو ښه فارمټ دی؛ ځکه چې له مخې د ټولو شته ذیدخلو استفاده کوونکو متقابل تړاو په رسمیت پیژني او د اوبو د سرچینو د مدیریت په برخه کې د اقتصادي، اجتماعي، ژوند چاپېریالي موخو ترمنځ یو ډول بېلانس رامنځته کوي او دا ډول مدیریتي هڅې باید اوسني اقلیمي بدلونونه او راتلونکي هغه په پام کې ونیسي او یوازې په تاریخي هغو بسنه ونه کړي؛
- **د شته معاهداتو او حقوقي تنظیماتو ارزونه او له نویو شرایطو سره یې د تطابق امکان ارزول:** د پوله تېرېدونکو سیندیزو حوزو په اړه دوه معاهدې سره ورته نه دي. هره یوه یې ځانته جلا شرایط لري، د ځانګړو شرایطو له مخې منعقد شوې دي، بېلابېلو اندېښنو او ستونزو ته رسیدګي کوي او هر یو یې خپل جلا محدودیتونه لري. همداراز مخکې مو هم ذکر کړه چې اقلیمي بدلونونه هره سیندیزه حوزه او اړوند تړونونه یې په بیلابیلو کچو اغیزمنوي. نو ځکه باید هر تړون په جلا جلا ډول وارزول شي او معلومه شي چې تړون د انعطاف کوم میکانیزم لري او کومه مهمه اغېزمنتیا او ستونزه لري چې باید ورته رسیدګي وشي او دا پروسه باید د ستونزې رامنځته کېدو وار له مخه پیل شي ترڅو د اړوندو هېوادونو ترمنځ د همکارۍ او مذاکراتو ښې فضاء رامنځته کولو ته زمینه مساعده کړي؛
- **له نویو شرایطو سره سم د شته معاهداتو اصلاح:** لکه څرنګه چې مخکې مو هم ذکر

کړه د نړۍ کابو اکثریت پوله تېرېدونکو اوبو معاهدات له راتلونکو اجتماعي، اقتصادي، چاپېریالي او ... بدلونونو سره د تطابق مؤثر میکانیزم نه لري. په یوه پوله تېرېدونکې سیندیزه حوزه کې دخیل هېوادونه باید د اړوندو سیندیزو حوزو په اړه شته تړونونه او حقوقي تنظیمات لږ تر لږه اصلاح کړي چې: ۱) تغییرمنونکې د اوبو بیاځلي وېش او یا تخصیص ستراتیژي ولري او همداراز د اوبو د کیفیت مسئلې ته رسیدګي وکړي؛ ۲) د فوق العاده شرایطو لکه وچکالۍ او سېلابونو وضعیت پیشبیني او حل‌لارې ورته ولټوي؛ ۳) په شته تړون کې د تغییر او اصلاح میکانیزم واضح تعریف او تشخیص کړي او ۴) د ګډ مدیریت نهادونه رامنځته کړي.

- **د ګډې نظارتي برنامې رامنځته کول:** په یوه ګډه سیندیزه حوزه کې ډېره اړینه ده چې د هېوادونو ترمنځ ګډ نظارتي سیستم وي، ترڅو له یوې خوا د غړو هېوادونو ترمنځ د همکاریو پراختیا ته زمینه مساعده کړي او له بل لوري په مشترکه توګه د آمارو او ارقامو راټولونې ظرفیت رامنځته کړي. په دې برخه کې هېوادونه باید په منظمه او سیستماتیکه توګه معلومات سره تبادله کړي ځکه چې له مخې یې هېوادونه کولای شي په مؤثره او غوره توګه د اقلیمي بدلونونو اغېزې و ارزوي او د اغېزمنېدو ځایونه او کچه یې معلومه کړي همداراز وکولای شي په سیندیزه حوزه کې هایدرولوژیکي او اجتماعي- اقتصادي موډلونه رامنځته کړي. دا ډول برنامې باید د اوبو لږ تر لږه جریان او د اوبو د کیفیت پارامترونه په ځان کې راونغاړي. سربېره پر دې، هېوادونه په دې برخه کې کولای شي د مخکېنۍ خبرتیا (Early warning) سیستم په رامنځته کولو سره د وچکالیو او سېلابونو اغېزې مدیریت او کمې کړي.
- **د هېوادونو له لوري په ګډه د اقلیمي بدلونونو اغېزو، متأثره کېدو او تطابق ارزونه ترسره کول:** په یوه شریکه سیندیزه حوزه کې اړوند ټول دخیل هېوادونه باید د راتلونکو عامو سناریوګانو ماډلونه ترسیم او تشخیص کړي ترڅو د رامنځته کېدونکو بدلونونو او اغېزو په اړه یې ګډ پوهاوی رامنځته شي. د پوله تېرېدونکو سیندیزو حوزو په هکله د هېوادونو ترمنځ همکاري او همغږي کولای شي د پوهاوي پربنسټ ولاړه، د اقداماتو پراخه ساحه، د مخنیوي او آمادګیو پر بنسټ اقتصادي او غوره حل‌لارې تشخیص او پیل کړي.
- **دا ډول هره ستراتیژي د قوت او ضعف ټکي لري.** په دې برخه کې مهمې ننګونې

او خنډونه شته چې د هېوادونو ترمنځ رامنځته کېدونکي او پخواني معاهدات او حقوقي تنظیمات اغېزمنوي. د دغو خنډونو په منځ کې مهم هغه سیاسي خنډونه دي، چې د ستراتیژیکو منابعو پر سر معلوماتو او ارقامو شریکولو په هکله محدودیت ایجادوي، همداراز اقتصادي او مالي فشار دی چې د هېوادونو لومړیتوبونه ټاکي او ممکن دا مسائل ورته لومړیتوب د نورو په پرتله ونه لري. البته دا په دې معنا نه ده، چې په نړیواله کچه د سیندیزو حوزو شریکو هېوادونو ترمنځ د همکارۍ بهبود لپاره یوه یا ټولې پورتنۍ ستراتیژۍ تطبیق او په لار اچول شوې دي. هېوادونه خپلو شرایطو او وضعیت ته په کتو کولای شي د سیاسي ستونزو کمښت او اجتماعي اغېزمنېدونکو ننګونو لپاره له اقلیمي بدلونونو سره د تطابق په لاره کې د سیندیزو حوزو مدیریت په برخه کې لارې چارې ولټوي.

**ماخذونه:**

**الف) په ملي ژبو:**


۱. اعظم، غلام فاروق، اوبه د تېلو او سمندري بندر په مقابل کې، ۱۳۹۸، کابل، د افغانستان علومو اکاډمي، د سیمه ایزو مطالعاتو مرکز.

۲. آریوبي، برکت الله، د افغانستان د اوبو سرچېنو مدیریت نړیوال قواعد او د ګانډېو اندېښنې، ۱۳۹۸، کابل، سوله خپرندویه ټولنه.

۳. د اوبو او انرژۍ وزارت له یوه چارواکي سره مرکه، ۱۳۹۸.

۴. د نړیوالو سیندیزو حوزو په اړه د ملګرو ملتونو ۱۹۹۷ کال کنوانسیون.

۵. د هلمند سیند د دلتا کمیسیون علمي او تخصصي ژباړه، ۹۵ ماده، د اوبو او انرژۍ وزارت د پوله تېرېدونکو اوبو ریاست، ۱۴۰۰

۶. د هلمند«هیرمند» د اوبو په باره کې د افغانستان او ایران ترمنځ تړون؛

۷. سیستاني، محمد اعظم، سرگذشت سیستان و رود هیرمند از سال ۱۷۴۷ الی ۲۰۲۱، کابل، ۱۴۰۰ هـ ش، د علومو اکاډمی د اطلاعاتو او نشراتو ریاست؛

۸. شبکه خبری پیام آفتاب، وضعیت حقوقی حاکم بر رودخانه هلمند از منظر اسناد بین المللی، کابل، ۱۳۹۶؛

۹. غلام رضا فخاری، ژباړن: عبدالقیوم زاهد، د هیرمند سیند په اړه د افغانستان او ایران دولتونو ترمنځ اختلاف، ۱۳۸۹، جلال آباد؛

۱۰. محمودي، سلطان محمود، مدیریت جامع منابع آبی در حوزه های آبریز افغانستان، کابل، ۱۳۹۶، دویم ټوک؛

۱۱. وضعیت حقوقی حاکم بر رود هلمند درپرتو اسناد بین المللی،شبکه خبری پیام آفتاب، ۲۱ سرطان ۱۳۹۶. په آنلاین بڼه: http://www.payam-aftab.com/fa/doc/news/71506


**ب) په انګلیسي ژبه**


12. B. GODANA, Africa’s shared water resources: legal and institutional aspects of the Nile, Niger and Senegal river systems198(1985).

13. Bakker, M., 2009. Transboundary river floods and institutional capacity, journal of American water resources Association, 45(3), 553.

14. Bangladesh demands share of common river water with India, overseas News service, Feb. 20, 1985.

15. Brown, climate variability and the Colorado river impact: implications for responding to climate change, in in societal response to regional climatic change: forecasting by analogy 279, 280.

16. Bulson, Colorado river salinity problem: has a solution been found? 9th international law. 283,1975.

17. Colorado river compact act, 42 stat. 171(1921).

18. Crosson, climate change and mid-latitudes agricultures: perspective on consequences and policy responses, 15 CLIMATIC CHANGE 51, 59.

19. Dursun YildizT Afghanistan's transboundary Rivers and regional security, World scientific News,2015, p.49

20. Fischhendler, I., 2004. Legal and institutional adaptation to climate uncertainty: a study of international rivers. Water policy 6(4), 281.

21. Gleick, supra note 42, at 27.

22. Hamner, J. and Wolf, A., 1998. Patterns in international water resources treaties: the Transboundary freshwater dispute database. Colorado Journal of international environmental law & policy, 1997 yearbook.

23. Helga Haftendorn, 2000, water and international conflict, Third World Quarterly, 21:1,51-68.

24. International commission for the protection of the Rhine, 2009. Analysis of the state of knowledge on climate changes on the water regime in the Rhine watershed: Report no. 174.

25. Islam, supra note 139, at 923. The Brahmaputra has a much larger flow the Gangas

26. Islam, the Gangas water dispute: an appraisal of a third-party settlement, 27.p140.

27. Italy Fischhendler, Legal and Institutional Adaption to climate uncertainty: A study of international Rivers, University of California Berkeley, CA.p.7.

28. J. starr & D. stoll, climate change and US foreign policy options in the upper Nile River basin4(Jan. 5, 1988).

29. J. Waterbury, hydro politics of the Nile valley 13-14 (1979).

30. Kaye, resources and rights, Far E. Econ. Rev., Feb. 2, 1989, at 19, 22.

31. Kundzewicz, Z. W., et all 2007. Freshwater resources and their management> In: M.L parry, et al, eds

32. Lake powell and lake mead

33. LAWRENC J. MACDONNELL, THE WATER TRANSFER PROCESS AS A MANAGEMENT OPTION FOR MEETING CHANGING Demands (University of Colorado School of Law Natural Resources Law Center 1990).

34. Lwehabura, cooperation in the management and development of kagera River basin, in UN department of technical cooperation for development at 175.

35. M. Janis, An introduction to international law 5(1988).

36. Mc Caffery, S.C, 2003 the need for flexibility in fresh water treaty regimes. Natural resources forum, p156.

37. Mc Caffrey, S.C, 2003, the need for flexibility in freshwater treaty regimes, Natural resources forum, 27(2), 156

38. McCaffrey Stephen, the law of international watercourses non navigational uses ‹2001, oxford university press, p.381.

39. Nagheeby, Mohsen, the worst or the best treaty? Analyzing the equitable and reasonable utilization principle in the legal arrangement of Helmand River

40. Recent development, international agreements: Gangas waters treaty, Bangladesh India, 19 Harv.708,1978.

41. Revelle and waggoner, effects of a carbon dioxide-induced climate change on water supplied in western united states, in board on atmospheric sciences and climate national research council, changing climate: report of the carbon dioxide assessment committee (1983).

42. Smith, how it might be: water resources, 15 EPA J. 19, 19(1989).

43. Starr, Egypt is African and its principles problem is water, intel herald tribune, feb.22, 1985.

44. Statement of Richard morgen tern, office of policy analysis, U.S. Environmental protection Agency" see Vellinga & Leatherman, sea level rise, consequences and policies, 15 climatic change 175(1989).

45. The Bhagirathi, the gangas first major distributary, is heavily silted, with a natural flow only in the rainy season. Hassan supra notes, 111 at 709.

46. The IBJEC. To be comprised of experts from both countries, was to undertake a comprehensive survey of the river system. Hassan supra notes 111, at 711.

47. The minutes becoming binding except where the specific approval of the two governments is required by any provision of the treaty.id.

48. UN food and Agriculture organization, legislative study No 15, systematic index of international water resources treaties (1978).

49. UNEP/OSU, 2002, atlas of international freshwater agreements, Nairobi, Kenya: UNEP press.

50. United nations water page in linked in, 11/1/2024 http://buff.ly/4gU18kp

51. USGCRP (US global change research program), 2000. Water: the potential consequences of climate variability and change.

52. UTILIZATION OF WATERS OF THE COLORADO AND TIJUANA RIVERS AND OF THE RIO GRANDE, TREATY BETWEEN THE UNITED STATES OF AMERICA AND MEXICO Signed at Washington February 3.1944.

53. Where dam can cause wars, supra note 13, at 37(the next war in the middle east could be fought not over oil, the region's most plentiful resources, but over water, it's sacrist).

54. Workshop: Transboundary water governance in Arab world, by Emilie Broek. https://www.youtube.com/watch?v=k_ppazsfZPY